جغرافیه

اووم ټولګی

د پوهنې وزارت

جغرافیه — اووم ټولګی



۱۳۹۸ هـ.ل

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
کور د سولې کور د تورې
دا وطن د ټولو کور دی
د پښتون او هزاره وو
ورسره عرب، گوجر دي
براهوي دي، قزلباش دي
دا هېواد به تل ځلیږي
په سینه کې د آسیا به
نوم د حق مو دی رهبر

دا عزت د هر افغان دی
هر بچی یې قهرمان دی
د بلوڅو د ازبکو
د ترکمنو د تاجکو
پامیریان، نورستانیان
هم ایماق، هم پشه یان
لکه لمر پر شنه آسمان
لکه زړه وي جاویدان
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

جغرافیه

اووم ټولګی

۱۳۹۸

ه.ش

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: جغرافیه

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د جغرافیه دیپارتمنت علمي او مسلکي غړي

اډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د اډیټ د څانګې علمي او مسلکي غړي

ټولګی: اووم

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هجري شمسي

د چاپ ځای: کابل

چاپخونه:

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلندکېږي.

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښښونکي خدایﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته یې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه یې برخمن کړي یو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفیﷺ چې د الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تآسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدایﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپیڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

دمعیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي یې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

فهرست

گڼه	سر ليكونه	مخونه
۱-	د جغرافيې بنسټ (مبادي)	(۱)
۲-	د څپركي موخې (هدفونه)	(۲)
۳-	لومړی لوست – جغرافيايي مفاهيم او اصطلاحات	(۳)
٤-	دويم لوست – آيا ځمكه كروي شكل لري؟	(۵)
۵-	دريم لوست – د استوا كرښه او اقليمي سيمې	(۷)
٦-	څلورم لوست – شمالي او سويلي نيمې كرې	(۱۱)
۷-	پنځم لوست – د ځمكې شمالي او سويلي قطبونه	(۱۳)
۸-	شپږم لوست – عرض البلد	(۱۵)
۹-	اووم لوست – د طول البلد پوهېدل څه اهميت لري؟	(۱۷)
۱۰-	اتم لوست – د ځمكې وضعي حركت او د هغه پايلې	(۱۹)
۱۱-	نهم لوست – د ځمكې انتقالي حركت	(۲۱)
۱۲-	د لومړي څپركي لنډيز	(۲۳)
۱۳-	دويم څپركی - د افغانستان جغرافيه	(۲٤)
۱٤-	د څپركي موخې	(۲٤)
۱۵-	لسم لوست – د افغانستان موقعيت او څلور خواوې	(۲۵)
۱٦-	يوولسم لوست – طبيعي جغرافيه	(۲۷)
۱۷-	دولسم لوست – د افغانستان د اقليم په اړه څه پوهېږئ؟	(۲۹)
۱۸-	ديارلسم لوست – غرونه	(۳۳)
۱۹-	څوارلسم لوست – د افغانستان سيندونه، د كرنې او انرژۍ د توليد وسيله	(۳۷)
۲۰-	پنځلسم لوست – د افغانستان د نورو حوزو سيندونه	(٤۱)
۲۱-	شپاړسم لوست – د افغانستان د جهيلونو په اړه څه پوهيږئ؟	(٤۳)
۲۲-	اووه لسم لوست – بشري جغرافيه	(٤۷)
۲۳-	اتلسم لوست – د افغانستان اقتصادي جغرافيه	(٤۹)
۲٤-	نولسم لوست – طبيعي او صنعتي نباتات	(۵۳)

گڼه	سرلیکون	مخونه
۲۵-	شلم لوست – د افغانستان د مالداری، څرځایونو او ځنګلونو په هکله څه پوهیږئ؟.	(۵۷)
۲۶-	یوویشتم لوست – کاني منابع	(۶۱)
۲۷-	دوه ویشتم لوست – کاني سون مواد	(۶۵)
۲۸-	در ویشتم لوست – په افغانستان کې صنایع او سوداګري	(۶۷)
۲۹-	څلورویشتم لوست – مواصلا تي جغرافیه	(۷۱)
۳۰-	د څپرکي لنډیز	(۷۵)
۳۱-	دریم څپرکی- د آسیا لویه وچه	(۷۶)
۳۲-	د څپرکي موخې	(۷۶)
۳۳-	پنځه ویشتم لوست – د آسیا د لویې وچې موقعیت او څلورخواوې	(۷۷)
۳۴-	شپږویشتم لوست – طبیعي جغرافیه	(۷۹)
۳۵-	اوه ویشتم لوست – د آسیا د لویې وچې د سیندونو په اړه څه پوهیږئ؟	(۸۱)
۳۶-	اته ویشتم لوست – د آسیا د لویې وچې جهیلونه، سمندرګي او خلیجونه	(۸۳)
۳۷-	نهه ویشتم لوست – د آسیا د لویې وچې اقلیم	(۸۵)
۳۸-	دېرشم لوست – بشري جغرافیه	(۸۹)
۳۹-	یو دېرشم لوست – اقتصادي جغرافیه	(۹۳)
۴۰-	دوه دېرشم لوست – کانونه او صنایع	(۹۵)
۴۱-	درې دېرشم لوست – د آسیا مواصلاتي جغرافیه	(۹۷)
۴۲-	څلور دیرشم لوست – د آسیا سیاسي جغرافیه	(۹۹)
۴۳-	د آسیا د لویې وچې د هېوادونو لېست	(۱۰۱)
۴۴-	د څپرکي لنډیز	(۱۰۳)
۴۵-	جغرافیایي اصطلاحات	(۱۰۴)

لومړی څپرکی

د جغرافیې بنسټ (مبادي)

د ځمکې د کُرې مدل

په دغه څپرکي کې لولو:

- جغرافیايي مفاهیم او اصطلاحات (د جغرافیې د علم تعریف او د جغرافیې د لوستلو گټې)
- د ځمکې کره
- د استوا کرښه، د سرطان کرښه، د جدي کرښه، د مدارونو سیمه، معتدلې سیمې او سړې سیمې.
- شمالي او سهیلي نیمې کُرې
- شمالي قطب، سهیلي قطب، د شمالي قطب دایره، د سهیلي قطب دایره او د ځمکې محور.
- عرض البلدونه
- طول البلدونه
- د ځمکې وضعي حرکت او نتیجې یې
- د ځمکې انتقالي حرکت او نتیجې یې
- د څپرکي لنډیز

د څپرکي هدفونه

له زده کوونکو څخه هیله کېږي چې ددغه څپرکي له لوستلو څخه وروسته د جغرافيې له علم او د هغه د لوستلو له ګټو سره بلد شي.

ـ د دغه څپرکي مفاهيم، اصطلاحات، ارزښتونه او مهارتونه زده کړي.

ـ په خپل چاپېر د ځمکې څرخېدل او د شپې او ورځې له پيدايښت سره يې اړيکه درک کړي.

ـ د لمر په شاوخوا د ځمکې د ګرځېدو او د څلورو فصلونو د پيدايښت پر اړيکه پوه شي.

ـ د ځمکې پرمخ د هرې سيمې د وخت د بدلون او طول البلد د کرښو ترمنځ اړيکې ټينګې کړي.

ـ د طول البلد او عرض البلد له کرښو سره بلد شي.

له زده کوونکو څخه هیله کېږي چې ددې څپرکي په لوستلو سره لاندې مهارتي هدفونو ته لاس رسی ومومي:

- د ځمکې کُره د طول البلد او عرض البلد له کرښو سره رسم کړای شي.
- وکولای شي د هر طول البلد وخت وټاکي.
- د ځمکې د مخ د بېلابېلو سيمو د اقليم توپير وکولای شي.
- د ځمکې د وضعي حرکت اهميت بيان کړي.
- د ځمکې د انتقالي حرکت اهميت بيان کړي.

لومړی لوست

جغرافيايي مفاهيم او اصطلاحات

آيا پوهېږئ چې د جغرافيي علم د څه په هکله معلومات راکوي؟

د جغرافيي د علم تعريف

جغرافيه د نړۍ د ښودلو هنداره ده چې د ځمکې او کايناتو په ټولو برخو کې موږ ته معلومات راکوي. بشري ټولنې د خپلو اړتياوو د لرې کولو لپاره په کرنې، مالدارۍ د کانونو په را اېستنې او نورو توليدي کارونو بوخت دي چې په مستقيمه او يا په غير مستقيمه توګه د طبيعي چاپېريال څخه ګټه اخلي.بالمقابل د چاپېريال ډول ډول شرايط هم د انساني ټولنو پر ژوند او اقتصاد پوره اغېزې لري؛ د بېلګې په توګه: هغه خلک چې په دښتو او صحراګانو کې استوګنه کوي، د هغوی اقتصاد په مالدارۍ متکي دی او په کوچي بڼه ژوند کوي او همدارنګه هغه خلک چې د سېندونو په غاړو استوګن دي، دايمي کورونه او اقتصاد يې پر کرنه، دکبانو په ښکار او په ځينو ځايونو کې د بېړيو په چلونې متکي دی. د پورتنيو مطالبو په نظر کې نيولو سره جغرافيه داسې تعريفوو: جغرافيه هغه علم دی چې د انسان او طبيعي چاپېريال متقابلې اغېزې تر څېړنې لاندې نيسي.

د جغرافيې ګټې

موږ او تاسو د خپل کلي، ښار او هېواد په هکله چې په هغه کې اوسېږو معلومات لرو، خو د نورو ښارونو، هېوادونو، د ځمکې کرې، لمريز نظام، سيارو او نورو موضوعاتو په هکله معلومات نه لرو. وخت او امکانات هم محدود دي چې هرځای ته لاړشو او د هغو په هکله معلومات لاسته راوړو. د



د نورستان طبيعي او بشري منظره

جغرافيي علم او د هغه مستند معلومات له موږ سره مرسته کوي، پرته له دې چې چېرته لاړشو او يا سفر وکړو، صحيح او مؤثق علمي معلومات لاسته راوړو.

د ټولګي فعاليت

په ټولګي کې دې د زده کوونکو هره ډله پورتني عکس ته وګوري چې کوم شيان پکې ويني؟ له هرې ډلې څخه دې يو تن د خپلې ډلې نظريې د ټولګي ترمخه نورو ته بيان کړي.

پوښتنې

١- جغرافيه تعريف کړئ.

٢ـ جغرافيه ز موږ په ژوند کې څه مرسته کوي؟

٣ـ د خپلې استوګنې د ځای د يوې په زړه پورې منظرې په هکله معلومات ورکړئ.

دویم لوست

آیا ځمکه کروي شکل لري؟



د ځمکې عکس له سپوږمکۍ څخه

آیا پوهېږئ چې ځمکه څه ډول شکل لري؟

ځمکه د لمریز نظام له سیارو څخه ده چې کابو کُروي شکل لري. د هغو د دقیقو څېړنو پر اساس چې شوي دي د ځمکې قطبونه لږ ننوتي او د استوا په برخه کې لږ[1] وتلي دي. په دې اساس ځمکه د یوې بشپړې کرې شکل نه لري، بلکې هغه د یوې نامنظمې کرې په شکل تعریفوي. ځکه چې استوایي قطر یې د قطبي قطر په پرتله ۲۱ کیلومتره اوږد دی. د ځمکې کُره د جوړښت له مخې لوړې او ژورې هوارې دښتې او همدارنګه ځپانده سیندونه، جهیلونه، سمندرګي او سمندرونه لري. د ځمکې ډېره لوړه څوکه د ایوریست څوکه ده چې د آسیا د لویې وچې د همالیا په غرونو کې چې د هند په شمال کې پراته دي، موقعیت لري او د سمندر له سطحې څخه (۸۸۴۸) متره لوړوالی لري. د ځمکې ډېره ژوره برخه د چین په سهیل ختیځ کې په آرام سمندر کې ده چې (۱۱۰۲۲) متره

۱. استوایي قطریې ۱۲۷۵٤ کیلومتره او قطبی قطر یې ۱۲۷۳۳ کیلومتره دي.

د سمندر له سطحې څخه ټیټه پرته ده او د ماریانا ګودال په نامه یادیږي.

د ټولګي فعالیت

د زده کوونکو هره ډله دې د مجسمې کرې یا نقشې په مرسته د ځمکې ډېره لوړه څوکه، د ځمکې ډېره ژوره برخه په تقریبي توګه پیدا کړي. وروسته دې د هرې ډلې استازی د ټولګي په مخ کې هغه تشریح کړي.

پوښتنې

۱ـ ځمکه منظمه کره ده او که غیر منظمه؟

۲ـ د ځمکې کومې برخې وتلې او یا ننوتلې دي؟

۳ـ په هغه ځای کې چې تاسو ژوند کوئ، لوړې او ژورې برخې یې څه نومېږي؟

٤ـ د نړۍ جګه څوکه څومره لوړوالی لري او په کوم ځای کې ده؟

۵ـ د نړۍ ژوره برخه چېرته پرته ده او څومره ژور والی لري؟

د استوا کرښه او اقلیمي سیمې



د استوا کرښه او اقلیمي سیمې

کومه فرضي کرښه د ځمکې کره په دوو مساوی شمالی او جنوبي برخو وېشي؟

د استوا کرښه

لویه فرضي دایره ده چې د ځمکې کُره په دوو برابرو برخو وېشي او د طول البلد پر دایرو او محور باندې عمود ده. د استوا د کرښې شمالي برخې ته شمالي نیمه کُره او جنوبي برخې ته یې جنوبي نیمه کره ویل کېږي.

د سرطان کرښه

د ورې د لومړۍ نېټې څخه وروسته، د لمر وړانګې ورو ورو د شمالي عرض البلدونو پر لور عمودي لګېږي تر څو چې د سرطان په لومړۍ نېټه د شمالي عرض البلد په $\frac{۱}{۲}$ ۲۳ درجو باندې عمود ولګېږي. له دې کبله دا عرض البلد د سرطان د دایرې (Tropic of Cancer) په نامه یادوي. په دې وخت کې د شمالي نیمې کُرې دوبی او د دوبي لمرېز انقلاب وي.

د جدي کرښه

د تلې له لومړۍ نېټې څخه وروسته د لمر وړانگې د استوا د دايرې جنوب په لور عمودي لگېږي، ترڅو د جدي په لومړۍ نېټه دجنوبي عرض البلد په $\frac{1}{2}$ ۲۳ درجو باندې عمود لگيږي. له دې کبله دا عرض البلد د جدي د دايرې (Tropic of Capricorn) په نامه يادوي او د جنوبي نيمې کرې دوبی وي. د جدي له لومړۍ نېټې څخه وروسته د لمر وړانگې بېرته د استوا خواته حرکت کوي. د درې مياشتو په اوږدو کې يعنې د وري په لومړۍ بيا د استوا پر کرښې باندې عمود لگيږي.

د استوا، سرطان او جدي کرښې



د مدارين سيمه

د جدي او سرطان پر کرښو د لمر وړانګې يو پوځل او پر نورو عرض البلدونو چې د سرطان او جدي د دايرو تر منځ پراته دي، د لمر وړانګې دوه ځلې عمودي لګېږي، نوځکه دا سيمه د استوايي مدارينو په نامه يادوي. چې هوا يې ډېره توده او مرطوبه ده او زيات اورښت لري.



معتدلې سیمې

په شمالي او جنوبي نیمو کرو کې د عرض البلد د $\frac{1}{2}$۲۳ درجو او $\frac{1}{2}$۶۶ درجو تر منځ پرتې دي چې هوا یې معتدل ده.

سړې او باردې سیمې

په دواړو نیمو کرو کې د $\frac{1}{2}$۶۶ درجو او ۹۰ درجو په منځ کې هوا نوره هم سړه وي چې بارده او یخچالي سیمه جوړوي.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي. هره ډله دې د ځمکې د کُرې شکل رسم کړي او په هغه باندې دې د استوا کرښه، د سرطان کرښه، د جدي کرښه، د مدارین سیمې، معتدلې سیمې او سړې سیمې دیوې موضوع په هکله په خپل منځ کې سره بحث وکړي او د خپل بحث پریکړه دې د ټولګي تر مخ نوروته بیان کړي.

پوښتنې

۱- د استوا کرښه څه ده؟
۲ـ د لمر وړانګې څه وخت د استوا پر کرښې عمود لګېږي؟
۳ـ د جدي کرښه په کومه سیمه کې ده؟
٤ـ د سرطان دایره ولې د سرطان د دایرې په نامه یادوي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې پلټنه وکړي چې د لمر وړانګې څه وخت د دوی د استوګنې په سیمه کې عمود ته نژدې او څه وخت د لمر وړانګې ډېرې کږې (مایل) لګېږي.

شمالي او سويلي نيمې کُرې



زده کوونکي دي د شمالي او سويلي نيمو کُرو، شمالي قطب او سويلي قطب سره بلد شي.

آيا پوهېږئ زموږ هيواد کومه نيمه کُره کې موقعيت لري؟

که د ځمکې کُرې ته ځير شو، نو ليدل کېږي چې د استوا کرښه هغه پردوو برابرو برخو ويشي. د استوا کرښه چې د عرض البلدونو مبدا منل شوې ده د عرض البلد صفر درجه ده. د عرض البلد نوي درجې په شمالي نيمه کره کې او د عرض البلد نوي درجې په سويلي نيمه کره کې دي. که ځير شو د استوا کرښه په سويلي امريکا کې د امازون د سيند له شمال، په افريقا کې د وکتوريا له جهيل او په آسيا کې د سوماترا له ټاپو څخه تېرېږي. په دې توګه د وچې زياتره سيمې، لکه: شمالي امريکا، مرکزي امريکا، د اروپا ټوله لويه وچه، د آسيا او د افريقا زياته برخه په شمالي نيمه کره کې پراته دي. لومړني انسانان او لرغوني مدنيتونه هم په همدې لويو وچو کې منځ ته راغلي او وده يې کړې ده، خو په سويلي نيمه کره کې يوازې استراليا، سويلي افريقا، د سويلي امريکا زياته برخه او انتارکتيکا پراته دي. له بلې خوا د سمندرونو زياته برخه په جنوبي نيمه کره کې ده؛ د بېلګې په توګه: د هند سمندر، د

آرام سمندر زیاته برخه، سویلي کنګل سمندر او د اطلس سمندر سویلي برخې په سویلي نیمه کره کې موقعیت لري، نو ځکه سویلي نیمه کره د اوبيزې نيمې کُرې او شمالي نیمه کره د وچې نيمې کرې په نامه یادوي. د سویلي نیمې کرې د هوا حالت سمندري او د شمالي نیمې کرې د هوا حالت کابو وچه ده. د نړۍ وګړي ډېر په شمالي نیمه کره کې ژوند کوي.

د نړۍ نقشه

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي، هره ډله دې په ټولګي کې نیمه کره د نیمې دایرې د قوس په توګه جوړه کړي. یوه ډله دې شمالي نیمه کره او بله ډله دې سویلي نیمه کره تمثیل کړي.

پوښتنې

۱- په شمالي نیمه کُره کې د وچې کومې ټوټې پرتې دي؟
۲ـ په سویلي نیمه کُره کې کوم سمندرونه موقعیت لري؟
۳ـ آسترالیا په کومه نیمه کُره کې موقعیت لري؟
٤ـ افغانستان په کومه نیمه کره کې دی؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د شمالي او سویلي نیمې کرې شکل د سمندرونو او وچو له ټوټو سره په خپلو کتابچو کې رسم کړي.

د ځمکې شمالي او سویلي قطبونه



آيا پوهېږئ د نړۍ په کومه برخه کې شپږ مياشتې شپه وي؟

که د ځمکې د کُرې شکل ته ځير شو، نو ليدل کيږي چې د استوا کرښه ځمکه له ختيځ نه لوېديځ ته په دوو برخو وېشي چې شمالي برخه يې د شمالي نيمې کُرې په نامه او جنوبي برخه يې د سويلي نيمې کُرې په نامه ياديږي. د استوا کرښه د عرض البلد صفر درجه ده، نوي درجې په شمال او نوي درجې د ځمکې په سويل کې پرتې دي، خو د نوي درجو عرض البلدونو پای د ځمکې د قطبونو وروستی برخه جوړوي.

شمالي او جنوبي قطب

شمالي قطب په شمال کې د محور وروستی نقطه ده چې عرض البلد يې شمالي نوي درجې دی. همداراز سويلي قطب د ځمکې په سويل کې د محور وروستی ټکی دی چې عرض البلد يې سويلي نوي درجې دی. له دې کبله د عرض البلد د صفر درجې (د استوا کرښې) اوږدوالی ډېر زيات دی، د عرض البلد د ۴۵ درجې اوږدوالي منځني او د قطبينو ۹۰ درجې عرض البلدونه ډېر کوچني عرض البلدونه شميرل کيږي چې اوږدوالی يې صفر ته رسيږي.

د ارکتیک دایره

د شمالي قطب دایره (ارکتیک) د شمالي عرض البلد $66\frac{1}{2}$ درجې ده.

د انتارکتیک دایره

د جنوبي قطب دایره (انتارکتیک) د سویلي عرض البلد $66\frac{1}{2}$ درجې ده.

د ځمکې محور

که چېرې د شمالي قطب وروستی نقطه د سویلي قطب له وروستی نقطې سره و نښلو، هغه کرښه چې دا دوه ټکي سره نښلوي د محور په نامه یادیږي. د محور شمالي پای شمالي قطب او د محور سویلي پای د سویلي قطب په نامه یادوي. جغرافیایي شمال قطب د قطب ستوري په لور دی چې د ځمکې محور ته یې له عمودي حالت څخه ښي لور ته د $23\frac{1}{2}$ درجو په زاویه میلان ورکړی دی. جغرافیایي شمال قطب چې د قطب ستوري په لور دی او د قطب ستوري موقعیت د دب اکبر سره موازي په شنه آسمان کې د شپې له خوا کولای شو وټاکو.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، یوه ډله دې د ځمکې د محور په هکله او بله ډله دې د شمالي نیمې کُرې په هکله سره بحث وکړي او وروسته د هرې ډلې استازي دې د بحث پایله په ټولګي کې بیان کړي.

پوښتنې

۱ـ شمالي قطب د عرض البلد په کومه درجه کې پروت دی؟
۲ـ سویلي قطب د ځمکې په کومه برخه کې موقعیت لري؟
۳ـ د قطب ستوری د ځمکې د کومې برخې په لور دی؟
٤ـ کوم عرض البلد ته د استوا کرښه ویل کیږي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

هر زده کوونکی دې د ځمکې شکل رسم کړي، شمالي او سویلي نیمې کُرې دې په هغه کې وښيي.

عرض البلد



عرض البلد

آیا پوهېږئ د عرض البلد دايرې څه شی دي او څه اهميت لري؟

د عرض البلد دايرو ته موازي دايرې هم وايي، ځکه دا ټولې کرښې د استوا له کرښې سره موازي دي چې د نقشې او مجسمې کرې په مخ باندې په ډاګه ليدل کېږي. عرض البلدونه هغو دايرو ته ويل کېږي چې د استوا له کرښې سره موازي د ختيځ لوېديځ لوري ولري يوله بل سره موازي او د طول البلد پر دايرو عمود دي. څرنګه چې ځمکه کروي ده، د عرض البلد ډېره لويه دايره د استوا کرښه ده او د عرض البلدونو مبداء (پيل) ګڼل کېږي، نو ځکه صفر درجه منل شوې ده. د استوا شمالي عرض البلدونوته شمالي عرض البلدونه وايي چې د (N) په توري ښودل کېږي او د استوا جنوبي عرض البلدونو ته جنوبي عرض البلدونه وايي او د (S) په توري ښودل کېږي. د عرض البلد هره درجه په ٦٠ دقيقو او هره دقيقه په ٦٠ ثانيو وېشل شوې چې په نقشو کې د درجې، دقيقې او ثانيې په توګه ښودل کېږي. که شکل ته ځير شو، د عرض البلد ۹۰ درجې په شمالي نيمه کُره کې او د عرض البلد ۹۰ درجې په جنوبي نيمه کُره کې شته دي. د عرض البلد لوېې دايرې ته د استوا کرښه وايي چې د ځمکې کُره په دوو مساوي برخو وېشي او عبارت دي له: شمالي نيمې کُرې او جنوبي نيمې کُرې څخه. د عرض البلد ډېره کوچنۍ دايره شمالي او جنوبي ۹۰ درجې دي چې اوږدوالی يې صفرته رسيږي.

د کال په بېلا بېلو فصلونو کې د لمر د وړانګو لګیدل د غرمې پر ۱۲ بجو کې د کابل د عرض البلد پر ۳٤ درجو او ۳۲ دقیقو باندې



د لمر وړانګو کوږوالی د کال په بېلو بېلو موسمونو کې



د لمر وړانګې د استوا پر کرښې د حمل (وري) او میزان (تلې) پر لومړۍ، د سرطان په کرښې باندې د سرطان (چنګاښ) پر لومړۍ او د جدي په دایرې باندې د جدي(مرغومي) پر لومړۍ نېغې عمود لګیږي. له همدې کبله د لمر وړانګو د لګېدو زاویه او موقعیت په هر فصل کې توپیر لري. پاملرنه دې وشي چې د لمر د وړانګو د لګېدو توپیر د فصلونو په بدلون او د نباتاتو په وده او اقلیمي سیمو باندې مهمه اغېزه لري، په ځانګړې توګه په معتدلو او قطبي سیمو کې.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي ، لومړۍ ډله دې د شمالي عرض البلدونو دایرې، دویمه ډله دې د جنوبي عرض البلد دایرې رسم کړي او خپل رسم شوي شکلونه دې د ټولګي پر وړاندې تشریح کړي.

پوښتنې

۱- د استوا دایره تعریف کړئ.

۲ـ د سرطان دایره له کومې درجې څخه تېرېږي ؟

الف) $\frac{۱}{۲}$ ۳۳ درجې   ب) شمالي $\frac{۱}{۲}$ ۲۳ درجې   ج) جنوبي $\frac{۱}{۲}$ ۲۳ درجې

۳ـ قطبي دایرې کوم عرض البلدونه ښیي ؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د عرض البلد دایرې په یوه کره کې رسم کړي او د مهمو دایرو نومونه دې واخلي.

په طول البلد پوهېدل څه اهميت لري؟



طول البلدونه

- د طول البلد له دايرو سره د زده کوونکو بلدتيا.

آيا پوهېږئ چې د طول البلدونو مبداء کومه کرښه ده؟

د جغرافيايي نقشو پر مخ داسې کرښې رسم شوې دي چې د هغو په وسيله په نقشې باندې د ځمکې پرمخ هره نقطه چې وغواړو پيدا کولی شو. دا کرښې د طول البلد او عرض البلد کرښې دي چې د جغرافيايي وضعيه کمياتو په نوم هم يادېږي. ځمکه دوه قطبه لري، شمالي قطب او جنوبي قطب. هغه فرضي کرښې چې د شمالي قطب څخه پيل او ترجنوبي قطبه رسېږي د طول البلد (نصف النهار) په نامه يادېږي. له دې امله د يوې دايرې محيط (۳۶۰) درجې دی، نو د طول البلد د ټولو درجو شمېر (۳۶۰) درجې کېږي. د طول البلد هغه کرښه چې د لندن په ښار کې له ګرينويچ څخه تېرېږي د طول البلدونو مبداء ده او صفر درجه منل شوې ده چې د طول البلد (۱۸۰) درجې يې د ګرينويچ ختيځ خواته پرتې دي او د ختيځ طول البلدونو په نامه او (۱۸۰) نورې يې د ګرينويچ لوېديځ خواته پرتې دي او د لوېديځ طول البلدونو په نامه يادېږي. د طول البلد هره درجه په (۶۰) دقيقو او هره دقيقه

يې په (٦٠) ثانيو باندې وېشل كېږي. د طول البلد كرښې په يوازې توګه د نړۍ په بېلو بېلو ځايونو كې د وخت توپير ښيي. په نقشو كې د طول البلد او عرض البلد د كرښو تقاطع د ځايونو موقعيت ښيي.

د ټولګي فعاليت

زده كوونكي دې په ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د ځمكې كره رسم كړي او پرهغې دې شمالي قطب، جنوبي قطب، د ګرينويچ د طول البلد كرښه او ختيځ او لوېديځ طول البلدونه وښيي. وروسته دې يوتن د خپلې ډلې په استازيتوب زده كوونكو ته خپله موضوع په ټولګي كې توضيح كړي.

پوښتنې

١ـ د كومو كرښو د تقاطع په وسيله يوه نقطه د نقشې پرمخ موندلاى شو؟
٢ـ د ټولو طول البلدو شمېر څو درجې دى او ولې؟
٣ـ د صفر درجې طول البلد له كوم مهم ښار څخه تېرېږي؟
٤ـ په نړۍ كې د وخت توپير د كومو كرښو په وسيله ښودل كېږي؟
٥ـ جغرافيايي طول البلد تعريف كړئ؟

له ټولګي څخه بهر فعاليت

د نن ورځې د لوست لنډيز په پنځو كرښو كې په خپلو كتابچو كې وليكئ.

د ځمکې وضعي حرکت او د هغه پايلې



آيا پوهيږئ چې د ځمکې له وضعي حرکت څخه څه نتيجې منځ ته راځي؟

ځمکه دوه ډوله مهم حرکتونه لري: وضعي حرکت او انتقالي حرکت. ځمکه په ٢٤ ساعتونو کې د خپل محور په چاپېر چورلي او خپله دوره بشپړ وي چې دا حرکت د ځمکې د وضعي حرکت په نامه ياديږي. دځمکې وضعي حرکت له نتايجو څخه د شپې او ورځې منځ ته راتګ دی. لمر تل په يوه طول البلد کې د ختلو په حالت کې او د هغه په مخالف لوري کې په يوه طول البلد کې د پرېوتو په حالت کې وي، نوځکه په ټولو طول البلدونو کې شپه او ورځ پرله پسې واقع کېږي. د ځمکې کره چې د طول البلد (٣٦٠) درجې لري، د (٢٤) ساعتونو په موده کې د لمر د وړانګو له مخې تېرېږي. په دې اساس په يوه ساعت کې د لمر د وړانګو له مخې د طول البلد (١٥) درجې تېرېږي. $۳۶۰^\circ \div ۲۴ = ۱۵^\circ$ د طول البلد يوه درجه په څلورو دقيقو کې د لمر له مخې تېرېږي. لومړی ختيځ طول البلدونه د لمر له مخې تېرېږي او له هغو څخه وروسته لوېديځ طول البلدونه د لمر له مخې تېرېږي، ځکه نو د ختيځ طول البلدونو وخت نسبت لوېديځو طول البلدونو ته ناوخته وي. د بېلګې په توګه: د کابل ښار چې د ختيځ طول البلد په (٦٩) درجو کې پروت دی او د مکې معظمې ښار چې د ختيځ طول البلد په (۴۰) درجو کې پروت دی د وخت توپير به يې څومره وي؟

يو ساعت او شپږ پنځوس دقيقې (١/٥۶َ=۶۰َ÷۱۱۶َ=۴×˚۲۹=˚۴۰-˚۶۹) په دې اساس د کابل او مکې معظمې ښارونو په منځ کې د وخت توپير يو ساعت او شپږ پنځوس دقيقې دی چې په دې صورت کې که

د کابل وخت د غرمې نه وروسته یوه بجه او شپږ پنځوس دقیقې وي، د مکې معظمې وخت به د غرمې ۱۲ بجې وي. د یوې سیمې د وخت د پیداکولو لپاره له نقشې څخه د هغې سیمې د طول البلد درجه پیدا کوو. وروسته د هرې درجې توپیر له خپل ښارسره پرتله کوو. څرنګه چې هره درجه په څلورو دقیقو کې د لمر له مخې تېرېږي، نو هغه په څلورو دقیقو کې ضربوو، په دې توګه د دوو سیمو تر منځ د وخت توپیر موندل کېږي.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي. هره ډله دې د لندن د ګرینویچ ښار چې د طول البلد په صفر درجې کې پروت دی او کابل ښار چې د ختیځ طول البلد په ٦٩ درجو کې پروت دی، د هغو ترمنځ د وخت توپیرمعلوم کړي او سم ځواب دې د ټولګي ترمخ وړاندې کړي.

په دې شکل کې د طول البلد ۳۶۰° په ۲۴ ساعتو کې د لمر د وړانګو له مخې څخه تېرېږي.



پوښتنې

۱ـ ځمکه څو ډوله حرکتونه لري؟

۲ـ د ځمکې وضعي حرکت څرنګه یو حرکت دی؟

۳ـ د طول البلد څو درجې د ۲٤ ساعتونو په موده کې د لمر له مخې تېرېږي؟

٤ـ د طول البلد هره درجه په څومره وخت کې د لمر له مخې تېرېږي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

د وضعي حرکت د پایلو په هکلو لنډ معلومات ولیکئ.

د ځمکې انتقالي حرکت



د ځمکې انتقالي حرکت

آیا پوهېږئ چې د کال څلور فصلونه د ځمکې د کوم حرکت په پایله کې منځ ته راځي؟

د ځمکې انتقالي حرکت د لمر په چاپېره ترسره کېږي او مدار یې بیضوي دی. لمر د بیضوي په یوه محراق کې ځای لري. له دې کبله د ځمکې واټن له لمر څخه په دوبي او ژمي کې توپیر لري. نژدې واټن یې د ۱٤۷ میلیونه کیلومتره او ډېر لیرې واټن یې ۱٥۲ میلیونه کیلومتره دی. د ځمکې حرکت پرمدار باندې په یوه ثانیه کې د (۳۰) کیلومترو په چټکوالي ترسره کېږي.

- په پسرلي کې د لمر وړانګې د استوا پر کرښې باندې عمود وي او هغه هم د وري پر لومړۍ باندې.
- د چنګاښ لومړۍ ورځ د دوبي د فصل پیل وي او د لمر وړانګې د سرطان پر دایرې باندې عمود ځلیږي.
- د تلې په لومړۍ د منې د فصل پیل او د لمر وړانګې د استوا پر کرښې باندې عمود لګیږي.
- د جدي (مرغومي) په لومړۍ کې د ژمي د فصل پیل او د لمر وړانګې د جدي پر دایرې باندې عمود لګیږي.
- له بلې خوا د سرطان (چنګاښ) لومړۍ نېټه د لمر وړانګې د ارکتیک د شمالي عرض البلد $66\frac{1}{2}$

درجو له شا څخه مماس تېرېږي او ټول شمالي قطب د لمر د وړانګو لاندې راځي، خو په جنوبي قطب کې د لمر وړانګې نه لیدل کېږي، ځکه په شمالي قطب کې شپږ میاشتې ورځ او په جنوبي قطب کې شپږ میاشتې شپه منځ ته راځي.

- د دې په خلاف د جدي (مرغومي) په لومړۍ کې د لمر وړانګې د انتارکتیک (جنوبي $66\frac{1}{2}$ درجې عرض البلد) څخه مماس تېرېږي ټول جنوبي قطب د لمر د وړانګو په وسیله روښانه کېږي او په جنوبي قطب کې شپږ میاشتې ورځې منځ ته راځي چې دا حالت د شمالي قطب په خلاف وي.
- د حمل (وری) لومړۍ ته د پسرلي اعتدال او د میزان (تلې) لومړۍ ته د منی اعتدال[1] وايي.
- د سرطان(چنګاښ) لومړۍ ته د دوبي لمریز انقلاب او د جدي (مرغومي) لومړۍ ته د ژمي شمسي انقلاب وايي[2].

د سرطان او جدي کرښو ترمنځ د لمر د وړانګو تګ او راتګ په دولسو میاشتو کې پوره کېږي او په منځنیو عرض البلدونو کې څلور فصله (پسرلی، دوبی، منی او ژمی) روښانه لیدل کېږي.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې د ځمکې انتقالي حرکت رسم کړي او د هغه په هکله دې په ټولګي کې خپلو ټولګیوالو ته معلومات ورکړي.

پوښتنې

۱- د ارکتیک دایره د ځمکې په کومه برخه کې ده؟
۲- د سرطان دایره څه اهمیت لري؟
۳- د پسرلي اعتدال څه دی؟
۴- د دوبي لمریز انقلاب څه وخت منځ ته راځي؟
۵- په شمالي نیمه کره کې شپږ میاشتې ورځ څه وخت منځ ته راځي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

د ځمکې د حرکتونو په هکله یو مطلب ولیکئ او په ټولګي کې یې ولولئ.

---

۱. د پسرلي اعتدال ته ربیعي اعتدال Vernal Equinox او د مني اعتدال ته خریف اعتدال Autumnal Equinox هم وايي.
۲. د دوبي لمریز انقلاب ته Summer Solistice یا سیفي انقلاب او د ژمي انقلاب ته Winter Solistice یا شتوي هم وايي.

د لومړي څپرکي لنډيز

– جغرافيه هغه پوهه ده چې د انسان او طبيعي چاپېريال متقابلې اړيکې مطالعه کوي. د جغرافيې د پوهې په مطالعې سره د ډېرو لرو سيمو په باره کې صحيح او علمي معلومات ترلاسه کوو.

– ځمکه چې د لمريز نظام د سيارو له جملې څخه ده کُروي شکل لري. د استوا کرښه يوه فرضي دايره ده چې ځمکه په دوو شمالي او سويلي نيمو کرو وېشي.

– د سرطان دايره هغه کرښه ده چې د شمالي عرض البلد په $\frac{1}{2}$ ۲۳ درجو کې پرته ده او د چنګاښ په لومړۍ کې ورباندې د لمر وړانګې عمود لګيږي.

– د جدي دايره هغه کرښه ده چې په جنوبي $\frac{1}{2}$ ۲۳ درجو کې پرته ده او د مرغومي په لومړۍ کې ورباندې د لمر وړانګې عمود لګيږي.

– معتدلې سيمې په دواړو نيمو کرو کې د $\frac{1}{2}$ ۲۳ درجو او $\frac{1}{2}$ ٦٦ درجو په منځ کې پرتې دي او معتدل اقليم لري.

– سړې سيمې په دواړو نيمو کرو کې د $\frac{1}{2}$ ٦٦ درجو د عرض البلدونو او شمالي او سويلي قطب ترمنځ پرتې دي چې سوړ اقليم لري.

– د استوا له کرښې شمال خواته د شمالي نيمې کرې په نامه يادوي. د استوا له کرښې سويل خواته د سويلي نيمې کرې په نامه يادوي. د شمالي قطب له دايرې (ارکتيک) نه تر شمالي نوي درجې پورې شمالي قطب او د سويلي قطب له $\frac{1}{2}$ ٦٦ درجو (انتارکتيک) څخه تر جنوبي ۹۰ درجې عرض البلد پورې د سويلي قطب په نامه يادوي.

– د ځمکې محور فرضي کرښه ده چې شمالي او سويلي قطب له يوبل سره په مستقيمه توګه نښلوي او ځمکه دهغه په چاپېره له لوېديځ څخه د ختيځ په لور څرخي.

– هغه کرښې چې د ځمکې په کره کې له ختيځ څخه د لوېديځ په لور کښل شوي دي او د استوا کرښې سره موازي دي د عرض البلد د کرښو په نامه يادېږي چې ۹۰ درجې يې د استوا د کرښې په شمال کې او ۹۰ درجې يې د استوا د کرښې سويل خواته پرتې دي.

– هغه کرښې چې شمالي او سويلي قطبونه سره نښلوي د طول البلد په نامه يادېږي. هغه کرښه چې د لندن له ګرينويچ څخه تېرېږي د طول البلد صفر درجه منل شوې چې ۱۸۰ درجې يې ختيځ خواته د ختيځو طول البلدونو په نامه او ۱۸۰ درجې يې د لوېديځ په لور د لوېديځو طول البلدونو په نامه يادېږي.

دویم څپرکی

د افغانستان جغرافیه

ددې څپرکي له لوستلو څخه وروسته له زده کوونکو څخه هیله کېږي چې:

- د هېواد پر طبیعي جوړښت پوه شي.
- د افغانستان له اقلیم سره بلد شي.
- د افغانستان د مشهورو غرونو او سیندونو په هکله معلومات ولري.
- د افغانستان د جهیلونو په هکله معلومات ولري.
- د افغانستان له نفوسو او بشري قواوو سره بلد شي.
- د افغانستان د خلکو له ژبو او دین سره بلد شي.
- د افغانستان له اقتصادي جغرافیې سره بلد شي.
- صنعتي او طبي بوټو سره آشنا شي.
- د مالدارۍ او څارویو له روزنې سره بلد شي.
- د ځنګلونو او څړځایونو سره چې ملي شتمني ده، بلد شي.
- د کاني زېرمو په هکله معلومات ترلاسه کړي.
- د سوداګرۍ له اهمیت څخه خبر شي.

له زده کوونکو څخه هیله کېږي چې ددې څپرکي په لوستلو سره په لاندې مهارتي هدفونو لاس بري پیدا کړي.

- په افغانستان کې د نفوسو د خصوصیاتو تحلیلول.
- له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته د وګړو د ګڼوالي د توپیر تشریح.
- د نقشې پرمخ د کاني شتمنیو وېش.

د افغانستان موقعیت او ځلورخواوې



د ځمکې د کرې مدل ته وګورئ چې افغانستان د آسیا د لویې وچې او نړۍ په کومه برخه کې پروت دی؟

افغانستان غرنی هېواد دی چې د آسیا د لویې وچې په سویل کې په شمالي نیمه کره (د استوا له کرښې نه شمال خواته) او په ختیځه نیمه کره کې (د لندن د ګرینویچ له کرښې څخه ختیځ خواته) پروت دی. د افغانستان پراخوالی (۶۵۲۰۰۰) کیلومتره مربع دی. زموږ هېواد افغانستان له ځلورو خواوو څخه وچې چاپېر کړی دی او آزاد سمندر ته لار نه لري. د عربو سمندرګي ته یې نژدې واټن ۴۰۰ کیلومترو ته رسیږي.

د آسیا سیاسی نقشه



د افغانستان شمال خواته د منځنۍ آسیا د

تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان جمهوریتونه پراته دي. زموږ د هیواد سویلي او ختیځې پولې (سرحدونه) د پاکستان له اسلامي جمهوریت سره د ډیورند د تحمیلي کرښې په واسطه په نښه شوي چې د افغانستان خلکو هغه په رسمیت نه دي پېژندلي. زموږ د هېواد لوېدیځ خواته د ایران اسلامي جمهوریت پروت دی. زموږ هېواد شمال ختیځ لورته په یوه لږه برخه کې د چین له جمهوریت سره ګډه پوله لري. د منځنۍ آسیا هېوادونه هم آزاد سمندرته لار نه لري. له دې کبله د هغوی سوداګري د آسیا له سویلي هېوادونوسره د افغانستان له لارې ترسره کېږي چې دا موضوع د افغانستان موقعیت ته ښه اهمیت ورکوي.

د ټولګي فعالیت

د نقشې له مخې پیدا کړئ چې افغانستان له کومو هېوادونو سره ډېره ګډه سرحدي پوله لري، په ترتیب سره یې له اوږدې پولې لرونکو څخه پیل کړئ.

- پاکستان
-
-

پوښتنې

۱ـ افغانستان د آسیا د لویې وچې په کومه برخه کې پروت دی؟
۲ـ افغانستان د نړۍ په کومه برخه کې پروت دی؟
۳ـ د افغانستان پراخوالی څومره دی؟
٤ـ له افغانستان څخه وچه چاپېره ده او که سمندر؟ نژدې واټن یې له کوم سمندرګي سره او څومره دی؟
٥ـ د افغانستان شمال خواته کوم هېوادونه پراته دي؟ د هریوه نوم واخلئ او په نقشه کې یې وښیئ.
٦ـ افغانستان د شمال ختیځ له خوا څخه کوم هېواد سره ګډه پوله لري؟ په نقشه کې یې وښیئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

د افغانستان ګاونډي اسلامي هېوادونه د هغو له لوري سره په خپلو کتابچو کې لیست کړئ او د جغرافیې په راتلونکي درسي ساعت کې یې ولولئ.

یوولسم لوست

طبيعي جغرافيه



د افغانستان طبيعي نقشه

د افغانستان د طبيعي حالت په هکله څه پوهېږئ؟

نقشې ته ځير شئ، زموږ د هېواد $\frac{١}{٣}$ برخه غرنۍ ده، نورې برخې يې هوارې دي. دهندوکش د غرونو لړۍ، د بابا غر، سفيد کوه او سياه کوه د تېربند ترکستان، او د سپين غر او تور غر د غرو لړۍ لوړې سيمې جوړوي. دا غرونه د هېواد په منځنيو، شمال ختيځو او ختيځو سيمو کې پراته دي. په لوړو غرنيو سيمو کې ژمی ډېره سړه هوا لري او زيات اورښت يې د واورې په بڼه وي. واورې په غرونو کې زېرمه کېږي او د پسرلي او دوبي په موسمونو کې د هوارو سيمو لپاره د سيندونو د اوبو اصلي سرچينه جوړوي.

دافغانستان ددې غرونو له لړيو څخه زيات سيندونه سرچينه اخلي چې خلک يې له اوبو څخه د ځمبلو لپاره او د خپلو ځمکو د خړوبولو په برخه کې ګټه اخلي. د افغانستان پر ځينو سيندونو د برېښنا بندونه جوړ شوي دي، له يوې خوا له نوموړو بندونو څخه په ګټې اخيستنې سره د هغو له برېښنا څخه ګټه اخيستل کېږي او له بلې خوا د هغو د اوبو له زېرمو څخه د کرنيزو

ځمکو په خړوبولو کې ګټه اخیستل کېږي.

لوړې سطحې

هوارې ځمکې چې د غرونو په منځ کې پرتې دي او دخپلو شاوخوا سیمو په پرتله لوړې وي د لوړې سطحې په نامه یادیږي. زموږ د هېواد مشهورې لوړې سطحې د پامیر او واخان سطحې او مرکزي لوړې سطحې دي.

د پامیر لوړه سطحه د آسیا د لویې وچې په منځنۍ برخه کې پرته ده چې لوړ والی یې د سمندر له سطحې څخه د ۶۰۰۰ او ۷۰۰۰ مترو تر منځ دی او د نړۍ د بام په نامه شهرت لري. د دې لوړې برخې یوه برخه د افغانستان په خاوره کې پرته ده.

دښتې

د هېواد سویل لویدیځه برخه چې توده او وچه هوا لري، اوربښت یې کم دی. په دې سیمو کې د مارګو، سیستان او بکوا دښتې پرتې دي. زموږ د هېواد نورې دښتې عبارت دي له: همدم آب څخه په هرات کې، چمتله په کابل کې، کیله ګۍ په بغلان کې، ګمبیري په لغمان کې، د سقاوې دښته په لوګر کې، د توپ دښته په وردګو کې او د لیلي دښته په جوزجان کې.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې دافغانستان د غرونو او د هغو د موقعیت او د غزیدو د لوري په هکله، دویمه ډله دې د افغانستان د لوړو سطحو په هکله او دریمه ډله دې د افغانستان د دښتو په هکله په خپل منځ کې سره بحث وکړي او د هرې ډلې استازی دې خپله موضوع د ټولګي تر مخ بیان کړي.

پوښتنې

۱ـ دافغانستان د ډېرو مشهورو غرونو نومونه واخلئ.
۲ـ لوړې سطحې یعنې څه؟ معلومات ورکړئ.
۳ـ د هېواد د لوړو سطحو نومونه واخلئ.
۴ـ ډېره لوړه سطحه څه نومیږي او څومره لوړوالی لري؟
۵ـ د هېواد د مهمو دښتو نومونه واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

د خپلې سیمې د غرونو، سیندونو او دښتو نومونه واخلئ او د جغرافیې په راتلونکي درسي ساعت کې یې بیان کړئ.

د افغانستان د اقليم په اړه څه پوهیږئ؟



د افغانستان اقليمي نقشه د عرض البلد له کرښو سره

د اقليم کلمه لاتيني ريښه لري، له Klima څخه اخيستل شوې ده چې د لمر د وړانګو د ميلان معنا ورکوي. د لمر د وړانګو ميلان د ځمکې د مخ په بېلو بېلو برخوکې توپير کوي. اقليم د (۳۰) کلونو په موده کې د يوې سيمې د هوا د حالاتو له منځنۍ اندازې څخه عبارت دی چې په يوه ټاکلي وخت او ځای کې بېلې بېلې ځانګړنې غوره کوي. افغانستان د جغرافيايي موقعيت او طبيعي جوړښت له امله په شپږو لاندې اقليمي سيمو وېشل شوی دی:

صحرايي سيمې

۱- صحرايي اقليم

د هېواد سويل لوېديځې سيمې، لکه: ګرشک، نيمروز او د فراه سويلي برخې صحرايي اقليم لري.په دې سيمو کې

اوربښت لږ او په ژمي کې واوره نه وريږي. زياته تودوخه او لږ اوربښت ددې سيمې له ځانګړنو څخه دي. د شپې او ورځې تر منځ يې د هوا د تودوخې توپير زيات دی. شپې يې ډېرې سړې او د ورځې هوا يې ډېره توده وي. د مارګو، بکوا، خاشرود او سيستان دښتې په دې سيمو کې پرتې دي. په دې برخو کې اغزي لرونکي ډول، ډول بوټي چې د وچې هوا او لنده بل د لړوالي په مقابل کې مقاومت لري، شنه کيږي.

۲- غرنی اقليم

لوړوالی د ځمکې د مخ د اقليم په بدلون کې ډېره اغېزه لري چې د غرني سوړ اقليم سبب کېږي. د هوا تودوالی په هرو زرو مترو کې د شپږو درجو په شاوخوا کې کميږي او د واورې او باران د اوربښت کچه زياتيږي، نو له دې کبله په لوړو غرنيو برخو کې له سړې هوا سره مخامخ کېږو. ډېر اوربښت په دغو سيمو کې د واورې په شکل وي. دغه واورې په غرونو کې زېرمه کېږي او د سيندونو اصلي سرچينه جوړوي. د هندوکش او سالنګونو د منځنۍ برخې آب و هوا د دې راز اقليم بيلګه ده.

۳- مديترانه يي اقليم

مديترانه يي ونې

د مديترانه يي اقليمي سيمه ډېر تود او وچ دوبی لري. اوربښت يې ډېر وختونه په ژمي کې د باران په توګه وي. وريجې، ګنې او د ستروس د کورنۍ مېوې په هغې کې وده کوي. د ننګرهار او لغمان ولايتونه مديترانه يي اقليم لري.

٤- د مونسون اقليم

د پکتيا، خوست او ننګرهار د ولايتونو ځينې سيمې مونسوني اقليم لري. په دې سيمو کې په دوبي کې باران اوري. ددې سيمو لنده هوا د لمنځې، څېرې، ځنغوزېو او قهوې د ونو د ودې لپاره ډېره برابره او

مناسبه ده. زموږ د هېواد ډېر طبيعي ځنګلونه په همدې سيمو کې دي.

٥- ستپی (واښه لرونکی) اقليم

اوربښت په دې سيمو کې زياتره په ژمي کې کېږي. په دې سيمو کې بوټي ښه وده کوي. دا سيمې د کرنې او د څارويو روزنې ته ډېرې مناسبې دي. په دې سيمو کې د بغلان، کندز، فارياب، پروان، غزني، کاپيسا، کابل او هرات ولايتونه شامل دي.

د استپی بوټو انځور

٦- غرنی (الپي) توندرا اقليم

لوړې برخې چې د ځنګلونو او ونو ساحه پکې پای ته رسيږي او نباتات پکې د وړو بوټو او واښو په بڼه شنه کېږي د توندرا د اقليم سيمه جوړوي. په دې سيمو کې واوره زياته اوري. ژمی يې ډېر سوړ او اوړد او دوبی يې معتدل او لنډ وي. د هوا د ډېر سړښت له امله پکې ونې نه شنې کېږي. په بدخشان کې د پامير سيمه، د هندوکش لوړې برخې او د غزني ناور په دغه اقليم کې راځي.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د اقلیم دتعریف او صحرایي اقلیم په اړه، دویمه ډله دې د غرني اقلیم او مدیترانه یي اقلیم په اړه، دریمه ډله دې د مونسوني اقلیم، ستپي اقلیم او الپي تونددار اقلیم په اړه سره بحث وکړي او هره ډله دې خپله موضوع د ټولګي په مخ کې تشریح کړي.

پوښتنې

۱ـ اقلیم تعریف کړئ.

۲ـ د افغانستان دغه لاندې اقلیمي جدول په خپلو کتابچو کې بشپړ کړئ.

د اقلیم نوم	ځانګړنې	نباتي پوښښ
صحرایي اقلیم		
		مختلف نباتي پوښښ
مونسوني اقلیم		
	اوربښت په ژمي کې	د ستروس د کورنۍ میوې

له ټولګي څخه بهر فعالیت

ستاسو د استوګنې سیمه کوم ډول اقلیم لري. په هکله یې په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ او د جغرافیې په راتلونکي ساعت کې یې خپلو ټولګیوالو ته ولولئ.

غرونه



د افغانستان غرونه

د افغانستان غرونه موږ ته څه گټې لري؟

افغانستان غرنی هېواد دی چې کابو $\frac{۱}{۳}$ برخه خاوره يې غرونو نيولې ده. دا غرونه د افغانستان په منځنيو او ختيځو برخو کې پراته دي. زموږ د وطن ځيني غرونه په ځنگلونو پوښل شوي دي. زموږ د هيواد په لوړو غرونو کې دايمي واورې شته، دا واورې د کال په توده هوا کې ويلې کېږي او د سيندونو سرچينې جوړوي.

که په افغانستان کې دا لوړ غرونه نه واى، زموږ هېواد به په يوې بې اوبو او بې بوټو وچو صحراوو بدل شوی واى سربيره پر دي زموږ د هېواد په غرونو کې ډېرې کاني زېرمې، لکه: اوسپنه، مس، سرپ او قيمتي ډبرې، لکه: ياقوت، لاجورد، زمرد او داسې نورې شته دي. له همدې کبله غرونه د افغانستان طبيعي شتمني شمېرل کېږي. د غرونو موقعيت د يوې سيمې د هوا په حالت کې هم زياته اغېزه لري. د مثال په توگه: د ننگرهار په ولايت کې سپين غر له ختيځ نه د لوېديځ په لوري پروت دی چې په هغه سيمه کې د هند د سمندر له خوا څخه د مونسوني لمدې هوا د راتلو مخه نيسي، ځکه نو يوازې د سپين غره په لوړو څوکو کې اورښت د واورې په شکل وي، خو د دې ولايت په هوارو برخو کې اورښت کم او د باران په ډول وي. لوړې غرنۍ سيمې د ټيټو برخو په نسبت سړه هوا لري. غرونه له پوځي اړخه هم د اهميت وړ دي.

د افغانستان مهم غرونه

۱ ـ هندوکش

هندوکش د افغانستان د ډېرو لویو غرونو له ډلې څخه دی، چې د افغانستان له شمال ختیځ کوچني پامیر څخه پیل او د سویل لوېدیځ په لور د بامیان تر درې پورې غځېدلی دی. د دې غرونو لړۍ په مرکزي برخه کې پراخه سیمه نیولې ده. هندوکش د ښې مطالعې لپاره په دوو برخو وېشل شوی: ختیځ هندوکش او لوېدیځ هندوکش.

ختیځ هندوکش د بدخشان له زیباک درې څخه د خاواک تر کنډو پورې غزیدلی دی. ختیځ هندوکش زیات لوړوالی لري. ډېره لوړه څوکه یې تیراجمیر نومیږي چې په چترال کې پرته ده او (۷۷۵۰) متره لوړوالی لري. ډېره لوړه څوکه یې د افغانستان په خاوره کې نوشاخ نومیږي، چې د سمندر له سطحې څخه (۷٤۸۵) متره لوړوالی لري.

لوېدیځ هندوکش د خاواک له کنډو څخه د بامیانو تر درې پورې غځېدلی دی. لوړوالی یې له

ختيځ هندوکش نه لږ دی. له دې کبله يې له کنډوونو تګ راتګ آسانه دی. د سالنګ کنډو د (۳٤۰۰) مترو او د شيبر کنډو د (۳۲۰۰) مترو په لوړوالی سره د لوېديځ هندوکش له مشهورو کنډوونو څخه دی، چې د خلکو د تګ او راتګ لاره ده، له شمال څخه سويل ته او د هغې برعکس.

۲ـ د بابا غر

د بابا غر د افغانستان په منځنۍ برخه کې له ختيځ څخه لوېديځ ته د حاجيګګ له کنډو نه پيل شوی د حصار د غره تر سويل پورې غځېدلی دی. لوړه څوکه يې شاه فولادي نوميږي چې د سمندر له سطحې څخه (۵۱٤۰) متره لوړه پرته ده. ددې غره لوړې څوکې زياتره له واورو ډکې وي. په شمالي او سويلي لمنوکې يې د څارويو د روزنې لپاره ښه څړ ځايونه شته دي.

د بابا غر

۳-سپین غر

سپین غر د افغانستان په ختیځ کې پروت دی. لوړه څوکه یې سیکارام ده چې د سمندر له سطحې څخه (٤٧٥٥) متره لوړه ده. شمالي او سویلي لمنې یې له طبیعي پراخو ځنګلونو څخه ډکې دي. د خیبر نامتو دره چې له تاریخي او ارتباطي پلوه د اهمیت وړ ده، ددې غره په لړۍ کې پرته ده.

افغانستان زیات غرونه لري. نور مهم غرونه یې دادي: فیروزکوه یا سفید کوه، سیاه کوه، ګل کوه، د تیربند ترکستان، د سلیمان غرونه، چګایي، تورغر او نور.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو وویشل شي، د لاندې موضوعاتو په اړه دې بحث وکړي او موضوع دې د ټولګي ترمخ شرح کړي. لومړۍ ډله دې د افغانستان نقشه رسم کړي، د بابا غر دې پکې وښیي او د هغه په اړه دې معلومات ورکړي. دویمه ډله دې د افغانستان نقشه رسم کړي سپین غر دې پکې وښیي او د هغه په اړه دې معلومات ورکړي. دریمه ډله دې د افغانستان نقشه رسم کړي، د هندوکش غر دې پکې وښیي او د هغه په اړه دې معلومات ورکړي.

پوښتنې

۱ـ د افغانستان غرونه زیاتره په کومه سیمه کې پراته دي؟

۲ـ ولې په لوړو غرونو کې دایمي واورې شته دي؟

۳ـ د هندوکش غر زموږ د هېواد په کومه برخه کې پروت دی؟

٤ـ د بابا غر د هېواد په کومه برخه کې پروت دی؟

٥ـ سپین غر د هېواد په کومه برخه کې موقعیت لري؟

٦ـ د افغانستان د غرونو اهمیت بیان کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

په خپلو کتابچو کې د افغانستان نقشه رسم کړئ او مهم غرونه د کتاب د نقشې له مخې په هغې کې په نښه کړئ.

د افغانستان سیندونه د کرنې او انرژۍ د تولید وسیله



د افغانستان سیندونه او جهیلونه

آیا رواني اوبه او سیندونه په یوه سیمه کې په مستقیمه توګه د خلکو پر فعالیتونو اغېزه لري؟

د غرونو په بحث کې مو ولوستل چې د هېواد په ډېرو لوړو غرونو کې دایمي واورې شته. دا واورې د کال په اوږدو کې اوبه کېږي او د سیندونو د اوبو سرچینه جوړوي. سیندونه له سرچینې لږې اوبه لري، د لارې په اوږدو کې د ځو ناوونو اوبه ور سره یوځای کېږي او سیند ورو ورو لويېږي. څرنګه چې د افغانستان ټولو سیندونو له لوړو غرونو څخه سرچینه اخستې ده، نو په هغو سیمو کې چې د سیندونو څوړ زیات وي. په زیاته اندازه د اوبو د برېښنا انرژي د تولید او قوت درلودونکې وي. او د هر یوه سیند په اوږدو کې په ځینو برخو کې د ځو کیلومترو په اوږدو کې د ځو برېښنا بندونو د جوړښت امکان شته دی. خو د سیندونو له سرچینې څخه تر خولې (مصب) پورې د زیات څوړ او ډېرین بستر له امله د افغانستان زیاتره سیندونه د بېړۍ چلولو وړ نه دي. همدارنګه د سیندونو له اوبو څخه په کرنه او کب نیولو کې هم ګټه اخیستل کېږي. لوی سیندونه عموماً مرستیالان او څانګې لري. د سیندونو څانګې د سیند په ښي او کیڼو غاړو کې بهېږي، په پای کې یې اوبه د لویو سیندونو

سره یوځای کېږي. له لویو سیندونو سره ددې کوچنیو سیندونو د اوبو یوځای کېدل د سیندونو د سیستم په نامه یادیږي.

د جغرافيې پوهانو د افغانستان رواني اوبه په پنځو اوبه لرونکو حوزو وېشلې دي چې عبارت دي له:

لومړی ـ د کابل د حوزې سیندونه

دویم ـ د آمو د حوزې سیندونه

دریم ـ د هلمند د حوزې سیندونه

څلورم ـ د هریرود د حوزې سیندونه

پنځم ـ د تړلو حوزو سیندونه

لومړی ـ د کابل د حوزې سیندونه

د دې حوزې ډېر لوی سیند د کابل سیند دی چې د پغمان د غره د اونۍ له کنډو څخه سرچینه اخلي، له لوېدیځ څخه د ختیځ په لور بهیږي. د کابل ښار، لغمان او ننگرهار ولایتونو څخه تېرېږي او په اټک کې د سند له سیند سره یوځای کېږي. د کابل د سیند مرستیالان دادي: د لوگر، پنجشیر،

د نغلو د برېښنا بند



لغمان (الیشنګ او الینګار) او د کونړ سیندونه. د کابل د سیند له اوبو څخه د کرنې د ځمکو په خړوبولو کې ګټه اخیستل کېږي. د ماهیپر، نغلو، سروبي او درونټې د برېښنا بندونه د کابل د سیند په اوږدو کې جوړ شوي دي چې د هغو له برېښنا څخه د کابل، جلال آباد او لغمان د ښارونو په روښانولو کې ګټه اخیستل کېږي.



د کابل سیند او د ښار مرکز

دویم ـ د آمو د حوزې سیندونه

د آمو سیند چې یونانیانو د اکسوس او عربانو د جیجون په نوم یاد کړی دی، ددې سیمې ډېر لوی سیند دی چې له کوچنې پامیر څخه سرچینه اخلي او د ارال په جهیل کې توییږي. دا سیند د زرقول څخه تر خماب پورې د (۱۲۰۰) کیلومترو په اوږدوالي د افغانستان او تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان د جمهوریتونو ترمنځ طبیعي پوله جوړوي. مرستیالان یې د افغانستان له خاورې څخه د کندز او کوکچې سیندونه دي.

د آمو د سیند له اوبو څخه له دې کبله چې سیند ټیټ او د افغانستان په خاوره کې د سیند بهیر ته نژدې ځمکې لوړې پرتې دي، ګټه نه ترې اخیستل کېږي.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي. دوې ډلې دې د آمو د حوزې پر سیندونو او دوې ډلې دې د کابل د سیند د حوزې پر سیندونو بېل بېل بحث وکړي او د هرې ډلې استازي دې خپله موضوع د ټولګي تر مخ تشریح کړي.

پوښتنې

۱ـ سیندونه له څه ډول غرونو څخه سرچینه اخلي؟
۲ـ آیا د سیند اوبه ناڅاپه زیاتېږي؟
۳ـ له سیند څخه څه ګټه اخلو؟
٤ـ ولې د افغانستان سیندونه د بېړۍ چلولو وړ نه دي؟
۵ـ په هغو سیمو کې چې سیند ډېر ځوړ لري، ترې څه ګټه اخیستلای شو؟
٦ـ د افغانستان د اوبه لرونکو حوزو نومونه واخلئ.
۷ـ د آمو سیند د افغانستان او کومو هېوادونو ترمنځ طبیعي پوله جوړوي؟
۸ـ د کابل سیند له کوم غره څخه سر چینه اخیستې او د بهیدو لوری یې کوم لوري ته دی؟
۹ـ د کابل د سیند د مرستیالانو نومونه واخلئ.
۱۰ـ د کابل د سیند له اوبو څخه څه ګټه اخیستل کېږي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

د خپلې سیمې د سیندونو د اهمیت په باره کې معلومات راټول کړئ او په ټولګي کې یې وړاندې کړئ.

د افغانستان د نورو حوزو سيندونه



د هلمند او د هغه د مرستيالانو نقشه

آيا د افغانستان له ډېر اوږده سيند سره بلد ياست؟

دريم ـ د هلمند د حوزې سيندونه

د افغانستان ډېر لوی او اوږد سيند د هلمند سيند دی چې د پغمان د غره دوانۍ د کوتل له لوېديځو لمنو څخه سرچينه اخلي او د سويل لوېديځ په لور بهيږي. اوږدوالی يې (۱٤۰۰) کيلومتره دی. مرستيالان يې د موسیٰ کلا، ارغنداب، ترنک او ارغستان سيندونه دي. ځينې سيندونه له هلمند سره نه يوځای کېږي او د سيستان په جهيل کې توييږي چې هغه له: خاشرود، فراه رود، ادرسکن يا هاروت څخه عبارت دي. د هلمند د سيند تر څنګ د ګرشک په سيمه کې د بغرا نهر جوړ شوی دی. دا نهر د نادعلي سيمې او هغه دښتې چې د بُست کلا په لوېديځ کې پرتې دي خړوبوي.

څلورم ـ د هريرود د حوزې سيندونه

د دې حوزې ډېر مهم سيند هريرود دی چې د بابا د غره له لوېديځ څخه سرچينه اخلي او له ختيځ څخه د لوېديځ لور ته بهيږي. دا سيند له اسلام کلا څخه تر ذوالفقار پورې د افغانستان او

ایران ترمنځ طبیعي پوله جوړوي. هریرود په خپله تګ لاره کې هرات ولایت سمسوروي. ددې حوزې بل مهم سیند د مرغاب سیند دی.

پنځم ـ د تړلو حوزو سیندونه

هغه سیندونه چې له لوړو غرونو نه سرچینه اخلي او په یوې تړلې حوزې کې د افغانستان په دننه کې بهیږي او د بل سیند سره نه یوځای کیږي، د تړلو حوزو د سیندونو په نامه یادیږي، لکه: د غزني سیند چې د غزني له ښار څخه له تېریدو وروسته د غزني په ولاړو اوبو کې تویږي. د دې حوزې نور سیندونه له: بلخاب سیند، سمنګان سیند، اندخوی سیند او د قیصار له سیند څخه عبارت دي.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو وویشل شي، هره ډله دې د لاندې یوې موضوع په هکله سره بحث وکړي او د هرې ډلې استازی دې خپله موضوع د ټولګي ترمخ بیان کړي.

- د هلمند د حوزې سیندونه
- د هریرود د حوزې سیندونه
- د تړلو حوزو سیندونه

پوښتنې

١- د افغانستان ډېر اوږد سیند کوم دی او څومره اوږدوالی لري؟
٢ـ د هلمند د سیند د مرستیالانو نومونه واخلئ.
٣ـ د هغو سیندونو نومونه واخلئ چې په مستقله توګه بهیږي او د سیستان په جهیل کې تویږي؟
٤ـ د هلمند له سیند څخه تر اوسه پورې څه ګټې اخیستل شوې دي؟
٥ـ هریرود له کوم غره څخه سرچینه اخیستې او کوم ولایت سمسوروي؟
٦ـ هریرود د کومو هېوادونو ترمنځ طبیعي پوله جوړوي؟ د هغو هېوادونو نومونه واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

د پرانیستو حوزو سیندونه، لکه: هلمند او نور د تړلو حوزو له سیندونو سره پرتله کړئ او خپل معلومات ټولګي ته وړاندې کړئ.

د افغانستان د جهيلونو په اړه څه پوهېږئ؟

آيا تر اوسه په خپل چاپيريال کې له ولاړو اوبو سره چې له خلورو خواوو څخه پر وچه چاپيره شوي وي، مخامخ شوی یاست او پوهېږئ چې هغو ته څه وايي؟

هغه ولاړې اوبه چې څلورو خواوو ته يې وچه وي د جهيل په نامه يادېږي. زموږ هېواد افغانستان په ځينو برخو کې تړلې حوزې لري چې د جهيلونو د رامنځ ته کېدو سبب شوي دي. د مساحت له مخې داجهيلونه ځيني کوچني او ځيني لوی دي. يو شمېر جهيلونه په لوړو سيمو کې له يخچالي اوبو څخه منځ ته راغلي او ځيني په هوارو سيمو کې د سيمه ييزو سيندونو د اوبو له توېدو څخه جوړ شوي دي او په بېلو بېلو نومونو، لکه: هامون، کول، ولاړې اوبه او يا جهيل په نامه يادېږي.

د سيستان هامون

د هلمند هامون، د صابري هامون، د پوزک هامون اوګود زيره د هېواد په سويل لوېديځه برخه کې د نيمروز په ولايت کې د سيمه ييزو سيندونو اوبه جوړوي. ددې هامونونو غاړې د سيندونو د اوبو د زياتېدو له امله توپير کوي.

د هلمند هامون د افغانستان او ايران ترمنځ يوه برخه طبيعي پوله جوړوي. لکه چې دارنګه يوه

برخه چې د افغانستان او بله برخه يې په ايران پورې اړه لري.

د شيوا جهيل

د شيوا جهيل د بدخشان په ولايت کې پروت دی. اوبه يې پاکې او روڼې دي، په ژمي کې يې مخ کنګل کېږي. د شيوا جهيل د سمندر له سطحې څخه (۳۰۵۰) متره لوړوالی لري.

د زرقول جهيل

د زرکول يا زرقول جهيل د پامير په لوړه سطح کې د افغانستان او تاجکستان د پولې تر منځ پروت دی. دا جهيل د آمو او پامير د سيندونو لومړنی سرچينه جوړوي. د شمالي غاړې اوږدوالی يې شپږ کيلومتره، سويلي غاړې يې لس کيلومتره او سور يې څلورنيم کيلومتره دی، دا جهيل هم يخچالي دی. د کال په ډېرو وختو کې يې اوبه منجمدې او کنګل وي.

د چقمقتين جهيل

دا جهيل هم په پامير کې پروت دی. له دې جهيل څخه د واخان سيند سرچينه اخلي. د دې جهيل اوږدوالی ۱۷ کيلومتره او سور يې دوه نيم کيلومتره دی. شاوخوا يې شنه او سمسوره ده، د قرغز خلکو د څارويو لپاره يې ښې څايونه جوړ کړي دي.

د غزني ولاړې اوبه

د غزني ولايت سويل خواته موقعيت لري. د غزني سيند پکې تويږي. د دې جهيل اوبه ښه خوند نه لري.

د هرات مالگين جهيل د افغانستان او ايران د پولې تر منځ پروت دی. اوبه يې مالگينې دي او له هغه څخه مالگه لاس ته راوړي.

له پورتنيو جهيلونو پرته، يو شمېر طبيعي بندونه چې سيمه ييز جهيلونه يې جوړ کړي دي، هم زموږ په هېواد کې شته دي چې ډېرې ښکلې او زړه وړونکې منظرې جوړوي، لکه: د باميانو په ولايت کې د (هيبت، پنير، جداسل، پودينه او ذولفقار بندونه) چې دا ټول د بند امير په نامه يادېږي.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په څلورو ډلو وویشل شي، لومړۍ ډله دې د جهیلونو او د هغو د منځ ته راتګ، دویمه ډله دې د سیستان د هامون او د غزني د ولاړو اوبو، دریمه ډله دې د بدخشان د ولایت د جهیلونو، زرقول او چقمقتین او څلورمه ډله دې د امیر بند په هکله سره بحث وکړي او د بحث پایله دې د ټولګي په مخ کې بیان کړي.

پوښتنې

۱- جهیل تعریف کړئ؟

۲- د لوړو او ټیټو برخو جهیلونه سره څه توپیر لري؟

۳- جهیلونه په کومو نومونو او اصطلاحاتو یادیږي؟

٤- د هلمند هامون د کومو هیوادونو ترمنځ یوه برخه پوله جوړه کړې ده؟

٥- د زرقول جهیل د افغانستان په کومه برخه کې پروت دی؟

٦- کوم سیند د زرقول له جهیل څخه سرچینه اخلي؟

۷- د امیر بند د افغانستان په کومه برخه کې پروت دی؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

هغه جهیلونه چې تاسې لیدلي دي، نومونه یې واخلئ، د هغو په هکله خو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او د جغرافیې په راتلونکي درسي ساعت کې یې په ټولګي کې خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړئ.

اووه لسم لوست

بشري جغرافيه



د جغرافيې علم په بيلابيلو څانګو ويشل کېږي چې د هغو له اصلي څانګو څخه يوه هم بشري جغرافيه ده چې د نفوسو، قومونو، ژبو، دينونو او نورو موضوعاتو په هکله بحث کوي.

نفوس

افغانستان يو غرنی هېواد دی چې کابو ۳۰ ميليونه وګړي لري. په ۱۳۹۳ لمريز کال کې په افغانستان کې په هر کيلومتر مربع کې د وګړو ګڼوالی په منځنۍ توګه ٤٦ تنه و. د نفوسو ويش د افغانستان په ټولو ځايونو کې يو ډول نه دی، په ختيځو برخو کې د وګړو ګڼوالی زيات او په سويل لوېديځو او منځنيو برخو کې د وګړو ګڼوالی لږ دی. د هېواد اوسېدونکي د بېلابېلو سياسي، اقتصادي او اقليمي عواملو پر اساس له کليو نه د ښارونو په لور مهاجرت کوي چې دا کار په ښارونو کې د خلکو د ګڼوالي سبب شوی دی.

قومونه

- په افغانستان کې کوم قومونه ژوند کوي؟

زموږ ګران هېواد افغانستان، د افغانستان د اسلامي جمهوري په نامه او هره تبعه يې د افغان په نوم يادېږي. د بشري جغرافيې له نظره افغانستان له بېلوبېلو قومونو، لکه: پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، بلوڅ، پشه يان، نورستاني او نورو څخه جوړ شوی دی. پښتانه او تاجکان چې ددې سيمې

له آريايي نژاد څخه دي د هېواد په کابو ټولو برخو کې ژوند کوي. هزاره ګان، ازبکان او ترکمنان هم د افغانستان له نورو توکمونو څخه دي چې زیاتره دافغانستان په مرکزي لوړو سطحو او شمالي برخوکې اوسېږي. نورستانیان او پشه یان هم له اصلي قومونو څخه دي چې په ختیځو ولایاتو کې ژوند کوي. بلوڅان هم د دې هېواد له اصلي اوسېدونکو څخه دي چې په بلوڅي ژبه خبرې کوي او د افغانستان په سویل لوېدیځ کې ژوند کوي.

ژبې

په افغانستان کې له دېرشو څخه زیاتې ژبې او ډېرې لهجې شته دي چې ځینې یې دادي: پښتو، دري، ازبیکي، ترکمني، بلوڅي، پراچي،منجي، واخي، زیباکي، اشکاشمي، پشه یي، نورستاني، تیرایي، جتي، سندي، پنجابي او نورې چې له دې جملې څخه دوې ژبې پښتو او دري چې د هېواد اکثریت وګړي ورسره بلد دي، زموږ د هېواد رسمي ژبې دي. سیمه ییزې ژبې، لکه: ازبکي، ترکمني، بلوڅي، نورستاني او پشه یي په خپلو سیمو کې د دریمې ژبې په توګه رسمیت لري.

دین

زموږ د هېواد خلک د اسلام د مقدس دین پیروان دي. زموږ اکثریت خلک د حنفي مذهب پیرو دي. د جعفري او اسماعلیه د مذهبونو یو شمېر پیروان هم په دې هېواد کې ژوند کوي. یو شمېر هندوان هم په افغانستان کې اوسیږي.

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د بشري جغرافیې پر یوې موضوع، لکه: نفوس، قومونو، ژبې او د افغانستان د خلکو د دین په هکله سره بحث وکړي او له هرې ډلې څخه دې یوتن موضوع د ټولګي په مخ کې تشریح کړي.

پوښتنې

١- د افغانستان په کومو ولایتونو کې د وګړو ګڼوالی زیات او په کومو کې لږ دی؟
٢ـ د افغانستان اتباع په څه نامه یادیږي؟
٣ـ په افغانستان کې د ژبو شمېر څومره دی؟ د څو مهمو ژبو نومونه واخلئ.
٤ـ د افغانستان د رسمي ژبو نومونه واخلئ.
٥ـ په افغانستان کې د کومو دینونو پیروان ژوند کوي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

ستاسو په ولایت او د استوګنې په سیمه کې مهاجرت له کلي نه ښار ته زیات دی او که له ښاره کلي ته؟ په څو کرښو کې یې ولیکئ اوپه ټولګي کې یې تشریح کړئ.

د افغانستان اقتصادي جغرافيه



د افغانستان کرنيز فعاليتونه

آيا پوهېږئ چې کرنه په افغانستان کې څه اهميت لري؟

له انځور څخه مو څه زده کړل؟

د تراکتور په واسطه د ځمکې پستول (يوې کول)

د نباتاتو د غټېدو او ودې لپاره هوا، اوبو، خاورې، لمر او شپې او ورځې سرې ته اړتيا ده، د ځمکې خاوره د نباتاتو تکيه ځای دی او پکی بېلابېل غذايي توکي شته دي. افغانستان داسې هېواد دی چې په سلوکې ۸۵ خلک يې د کرنيزو محصولاتو له لارې ژوند کوي. زموږ په هېواد کې د آريايانو له وخته تر اوسه پورې کرنه په دوديزه او

عنعنوي توگه يوې کول د څارويو په وسيله او د کروندګرو د متو او لاسونو په زور ترسره کيږي.

زموږ د هيواد کرنيز حاصلات غلی دانې، لکه: غنم، وريشې، جوار، وريجې، ګدن، لوبيا، نخود، مې، مشنګ، باقلې او داسې نور دي.

غنم

غنم په کرنيزو ځمکو کې په اوبيز او للمي توګه د منې او پسرلي په موسمونو کې کرل کيږي. د منې غنم په تودو سيمو کې تر (۲۵۰۰) مترو لوړوالي او پسرلني غنم په اوبيز او للمي توګه تر(۳۳۰۰) مترو لوړوالي پورې کرل کېږي. په سړو سيمو کې د کال يو يا دوه فصله حاصل اخستل کيږي او د تودو برخو په ځينو سيمو کې، لکه: ننګرهار په يو کال کې د يوې کرنيزې ځمکې څخه تر درې فصله هم حاصل اخېستل کېږي.

للمي غنم د کب او وري په مياشتو کې د غونډيو په لمنو او هوارو ځمکو کې کرل کېږي چې د پسرلنيو اورښتونو په وسيله خړوبيږي.

افغانستان ٦٦ ميليونه هکتاره ځمکې لري چې تر اوسه يې يوازې ۳،۳۷ ميليونه هکتاره ځمکه د غنمو کرنې ته ځانګړې شوې ده.

د غنمو کروندې

په (۱۳۸۶) هـ. ل کال کې د غلو ټول تولید ۵،۶ میلیونه ټنه شمېرل شوی، خو د هیواد د وګړو د خوړو لپاره د نورو (۵۲۷) زره ټنو د واردولو اړتیا وه. د کرنې له ماشین آلاتو څخه د ګټې اخیستنې پر اساس په هر هکتار ځمکه کې د غنمو حاصلات (۲،۶) ټنه و او په ۱۳۸۶ هـ.ل کال کې په ټول افغانستان کې د غنمو تولید (۴،۵) میلیونه ټنه زیات شوی دی.

وریجې

ستاسو په نظر د وریجو اهمیت د خلکو د خوراکي توکي په توګه څه دی؟

نرۍ او غټې وریجې چې له غنمو وروسته زموږ د خلکو د خوراکي توکو څخه شمېرل کېږي، په (۲۱٤) زره هکتاره ځمکه کې کرل کېږي. د وریجو د بوټي کرل په هغو سیمو کې چې تود اقلیم، لنده هوا او ډېرې اوبه لري، ښه حاصل ورکوي، نو ځکه د بغلان نرۍ باړه وریجې، د کونړ د پشد وریجې، د لغمان نرۍ وریجې، د کندز د خان آباد د سیمو وریجې او د مزارشریف وریجې ډېر شهرت لري.

د وریجو کرونده



جوار

جوار زموږ د وطن د خلکو بل خوراکي توکی دی چې کرنه یې تر ۲٦۰۰ مترو لوړوالي پورې کیږي او د کرنې ساحه یې د ۵۰۰ زره هکتاره ځمکې په شاوخواکې ده. د جواروکرنه زیاتره د پکتیا او ننګرهار په ولایتونو کې کرل کیږي.

د جوارو محصول

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د لاندېنیو فعالیتونو څخه د یوه په هکله پخپل منځ کې بحث او خبرې وکړي او یو تن دې د خپلې ډلې په استازیتوب د خپلو خبرو پایله د ټولګي تر مخ وړاندې کړي.

- د غنمو د کرنې په هکله معلومات ورکړئ.
- په هېواد کې د وریجو د کرنې په هکله معلومات ورکړئ.
- د جوارو د کرنې په هکله معلومات راټول کړئ.

پوښتنې

۱- د هېواد د غوره کرنیزو محصولاتو نومونه واخلئ.
۲ـ په کوم دلیل ویلای شئ چې افغانستان یو کرنیز هېواد دی؟
۳ـ د آبي غنمو او د هغو د کرنې د وخت په هکله څه پوهېږئ؟
٤ـ د للمي غنمو د کرنې په هکله معلومات ورکړئ.
۵ـ په هېواد کې د وریجو د کرنې او ډولونو په هکله څه پوهېږئ؟
٦ـ آبي او للمي غنم سره څه توپیر لري؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

ستاسو په سیمه کې کوم کرنیز محصولات کرل کیږي، خپل معلومات خپلو ټولګیوالوته بیان کړئ.

طبي او صنعتي نباتات

د پنبې کرونده

آيا پوهېږئ چې په هېواد کې کوم صنعتي نباتات کرل کېږي؟

د افغانستان طبيعي ځانګړنو او جغرافيايي موقعيت ته په پام سره په دې هېواد کې ډېر صنعتي او طبي بوټي وده کوي.

الف - صنعتي بوټي

ستاسو په نظر صنعتي بوټي د هېواد په اقتصاد کې څه اهميت لري؟

زموږ په هېواد کې صنعتي بوټي له پنبې، چغندرو، ګنيو او نورو څخه عبارت دي.

۱ - پنبه

پنبه له دوو برخو څخه جوړه ده چې يوه يې مالوچ او بله برخه يې د پنبې دانه ده او د نساجۍ په فابريکو کې يو له بل څخه جلا کېږي. د مالوچو له برخې نه يې د نساجۍ په فابريکو کې هر ډول نخي ټوکران، شطرنجۍ، جوال او رسۍ جوړوي او همدارنګ له پنبه دانې څخه يې نباتي غوړي، د کالي مينځلو صابون او د پاتې توکو نه يې حيواني کنجاره جوړوي. له څولسيزو نا آراميو څخه د مخه زموږ په هېواد کې د بګراميو، ګلبهار، پلخمري، کندز، مزارشريف، بلخ، هرات، هلمند، کندهار او ننګرهار د نساجۍ فابريکو فعاليت کاوه چې ډول، ډول سپنسين ټوکران يې توليدول.

د پنبې نبات د ثور په میاشت کې کرل کېږي او د منې په وروستیو کې په لومړۍ، دویمې، دریمې او څلورمې درجې د لاس په وسیله راټول او سورت کېږي او د دوبي په توده هوا کې ښه حاصل ورکوي. هغه ولایتونه چې پنبه پکې کرل کېږي عبارت دي له: بغلان، کندز، تخار او بدخشان څخه چې د هېواد په سلو کې نوي پنبه تولیدوي. پنبه په سمنگان، بلخ، هرات، هلمند، ننگرهار، لغمان، پروان او کاپیسا ولایتونو کې هم کرل کېږي. د پنبې د مالوچو یوه برخه په کورنیو بازارونو کې پلورل کېږي.

۲ـ چغندر

د چغندرو د کرنې لپاره هغه ځمکې مناسبې دي چې آهکي توکي لري او ډېرې پکې نه وي. چې دا رنگه د کښت پراخې سیمې زموږ د هېواد د بغلان او کندز په ولایتونو کې شته. د بغلان د بورې په فابریکې کې له چغندرو څخه بوره او له پاتې برخې څخه یې حیواني کنجاره جوړوي.

۳ـ گني

د گنیو بوټي په توده او لنده هوا کې چې ډېرې اوبه لري، شنه کېږي. دا بوټي زیاتره د ننگرهار، لغمان او کونړ په ولایتونو کې کرل کېږي چې له هغه څخه گوړه جوړه وي. د هغه له پاتې برخې څخه د څارویو د خوراک لپاره گټه اخیستل کېږي. په دې وروستیو وختونو کې د گنیو قلمې له هند څخه وارد شوي او د کندهار او هلمند په ولایتونو کې هم کرل کېږي.

شمېره	د بوټي نوم	د کښت ساحه په جريب
۱	پنبه	۲۷۲۸۷۰
۲	چغندر	۲۲۵۹۰
۳	ګني	۱۱۸۴۰

ب ـ طبي بوټي

له طبي بوټو څخه څه ګټه اخيستل کېږي؟

د طبي بوټو له جملې څخه زعفران، سپېرکۍ، باديان او زيره په کرنيزو ځمکو کې کرل کېږي او نور بوټي، لکه: خوږه وله، هنګه، کاسني، پنيرک، مستار، سپېلني،ختمي، خاکشير، شيرخشت، ګربه خورک، ملنګان، سپيغول، د غره پياز او هوږه او... ټول په خپلسري توګه د غرونو او غونډيو په

لمنو، دښتو، ویالو او د کروندو په څنګ کې شنه کېږي او د شفا ورکوونکو درملو په توګه په یوناني طبابت کې په کورنیو بازارونو کې پلورل کېږي. زعفران، خوږه وله، هنګه، ځنګی او ځینې نور طبي بوټي د هېواد د صادراتو مهمه برخه جوړوي.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو وویشل شي، لومړۍ ډله دې د پنبې او له هغې څخه ګټه اخیستل، دویمه ډله دې د چغندرو او ګنیو او له هغو څخه ګټه اخیستل او دریمه ډله دې د طبي بوټو او له هغو څخه د ګټې اخیستلو په هکله بحث وکړي او یو یو تن دې د خپلې ډلې په استازیتوب د بحث پایلې د ټولګي په مخ کې خپلو ټولګیوالوته بیان کړي.

پوښتنې

۱ـ د هغو ولایتونو نوم واخلئ چې پنبه پکې کرل کېږي؟
۲ـ د پنبې له بوټي نه څه ګټه اخیستل کېږي؟
۳ـ له چغندرونه څرنګه ګټه اخیستل کېږي؟
٤ـ ګنې په څرنګه آب و هوا کې ډېره ښه وده کوي؟
۵ـ د طبي بوټو نومونه واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

ستاسو په سیمه کې څه ډول صنعتي او طبي بوټي وده کوي؟ په خپلو کتابچو کې د هغو نومونه ولیکئ او د جغرافیې په راتلونکي درسي ساعت کې یې خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړئ.

د افغانستان د مالدارۍ، ځرځايونو او ځنګلونو په هکله څه پوهېږئ؟

اهلي څاروي - پسونه

ستاسو په اند په هېواد کې کوم څاروي روزل کېږي؟

مالداري

مالداري او د حيواناتو ساتل زموږ د هېواد د کورنی شتمنۍ یوه مهمه سرچینه جوړوي چې په دوو برخو وېشل کېږي.

اهلي حيوانات: اهلي او کورني حيوانات، لکه: پسه، وزه، شيدي ورکوونکې غوا او غوايي، آس، اوښ او کورني چرګان دي.

پسه: د پسونو ځيني ډولونه، لکه: هزاره ګي، ترکي او کندهاري مشهور دي. د پسونو لويې او وړې رمې د ځمکه لرونکو او کوچيانو په وسيله ساتل کېږي چې له غوښو، پوستکو، وړيو او کولمو څخه يې ګټه اخيستل کېږي. د پسونو وړۍ، پوستکي او کولمې بهرته هم صادرېږي. د ترکي پسونو کولمې ډېر پيرودونکي لري.

اهلي څاروي – غواګاني

د قره قل پسونه د مالدارانو له خوا زیاتره د هېواد په شمالي ولایتونو، لکه: په سمنګانو، بلخ، جوزجان، فاریاب، کندز او هرات کې ساتل کېږي. د هغو له پوستکو څخه پوستین او پوستینچه جوړېږي او په هغو هېوادونو چې سړه هوا لري، لکه: کاناډا، روسیه او د امریکا متحده ایالاتو باندې پلورل کېږي. د قره قل د وري پوستکي د سره، کبودچه او تور تقر په نامه د لوېدیځې اروپا هېوادونو، د امریکا متحده ایالاتو، هند او کاناډا ته صادرېږي.

غوا: له غوا څخه لبنیات لاس ته راځي او د هېواد په کلیو کې یې کروندګر او د ځمکې خاوندان ساتي.

بارورنکی حیوانات

آس: قطغني، مزاري، ترکمني او هراتي آسونه مشهور دي او د سپرلۍ، وزلوبې، نېزې وهلو، بار وړلو، دهقانی او د ګاډۍ په چلولو کې ورڅخه ګټه اخیستل کېږي.

اوښ: زیاتره یې کوچیان ساتي او شنو سیمو او څړځایونو ته د کډه کولو په وخت کې له هغو څخه په بار وړلو کې ګټه اخلي او وایي چې اوښ وفا داره څاروی دی، چې ځوز خوري او بار وړي.

خر: خر د بار وړلو لپاره پکارېږي. زیاتره یې کروندګر او خرکاران ساتي. د شمالي سیمو خره غښتلي او غټ جسمونه لري.

وحشي حیوانات

وحشي حیوانات: زموږ په هېواد کې ۱۲۰ ډوله وحشي او تي لرونکي حیوانات شته چې له هغې ډلې څخه پړانګ، زمری، لېوه، ګیدړ، سورلنډی، سوی او نور دي او همدارنګه ۵۰۰ ډوله بېلابېل الوتونکي هم شته چې له هغې جملې څخه کولای شو د ډینګ، زاڼې، باز،

هیلۍ، زرک، دښتي چرګ او د کوچنیو مرغیو ډولونو ته اشاره وکړو.

څرځایونه

د افغانستان څرځایونو ۲،۳ میلیونه هکتاره ځمکه نیولې ده. د هېواد په شمال، جنوب او ختیځ کې د تودو سیمو چمنونه، د څارویو دایمي څرځایونه جوړوي. د ځنګلونو په ساحه، د هندوکش د غرونو د لړیو په لمنو او ناوونو کې او د افغانستان د شمال په نورو غرونو، مرکزي، ختیځو او سویلي ولایتونو او د غزني د ناور په دښته کې د پسرلي په معتدله او د دوبي په توده هوا کې د مالدارانو او مالداره کوچیانو لپاره ښه څرځایونه شته دي. دا خدای ﷻ ورکړې شتمني مهم حیاتي ارزښت لري.

ځنګلونه

ځنګلونه په افغانستان کې څه اهمیت لري؟

ځنګل زموږ په هېواد کې خدایي سوغات، طبیعي او ملي شتمني ده. ځنګلونه په زړه پورې او د لیدو وړ منظرې لري او د وحشي حیواناتو او الوتونکو پټن ځایونه دي. د ځنګلونو د سیمو هوا پاکه، صافه او زړه وړونکې ده.

په افغانستان کې د ځنګلونو ساحه د دوو میلیونو هکتارو په شا او خوا کې ده. زموږ په هېواد کې ځنګلي سیمې د نورستان، ننګرهار، لغمان، کونړ، پکتیا، پکتیکا، بدخشان، بغلان، سمنګانو، سرپل، بادغیس او هرات په ولایتونو کې دي.

ځنګل

د نورستان او کونړ د چارتراشو لرګي د نړۍ په کچه ډېر پېروډونکي لري او د هېواد مهم صادراتي برخه جوړوي. په دې وروستيو وختونو کې دولت کلکه پاملرنه کړې چې د ونو د وهلو او پرې کولو مخه ونيسي او په دې سيمو کې د ډول، ډول نيالګيو کېنول لازم دي.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي، له هرې ډلې څخه دې يو تن پر يوې لاندېنۍ موضوع خبرې وکړي او له بحث څخه وروسته دې د خپل بحث پايله د ټولګي تر مخ بيان کړي.

- د پسه او غوا په هکله معلومات ورکړئ.
- د وحشي حيواناتو په هکله څه پوهېږئ؟
- د ځړ ځايونو په هکله دې معلومات راټول کړي.
- د طبيعي ځنګلونو په هکله دې څرګندونې وکړي.

پوښتنې

ګرانو زده کوونکو! لاندېني جدول ته په ځير سره پاملرنه وکړئ. د کلمو او اصطلاحاتو تر څنګ عدد د الفبا د اړوند توري سره چې توضيحات لري، په خپلو کتابچو کې ونښلوئ. د مثال په توګه د ٤ عدد د الف له توري سره اړيکه لري.

۱	اوبښ	الف	پوستکي يې زموږ د هېواد د صادراتو مهم قلم دی.
۲	غوا	ب	د ځړ ځايونو لپاره له يوه ځايه بل ځای ته کډه کوي.
۳	کوچيان	ج	له هغه نه په سپرلی، باروړلو، وزلوبې او نيزې وهلو کې ګټه اخلي
۴	د قره قل پسه	د	وفا داره حيوان دی چې څوزخوري او بار وړي.
۵	آس	هـ	شنې بوټي لرونکې سيمې دي چې د پسونو، وزو، آسونو، غوايي او خرو رمې پکې څري.
۶	ځنګلونه	و	له هغې څخه لبنيات لاسته راځي.
۷	پسته او بادام	ز	زموږ د هېواد له صادراتي مېوو څخه دي.
۸	ځړ ځايونه	ح	زموږ طبيعي او ملي شتمني ده.

له ټولګي څخه بهر فعاليت

د وحشي حيواناتو نومونه واخلئ او په خپلو کتابچو کې د هريوه په هکله يو مطلب وليکئ چې له هغو سره بايد څه وشي؟

کاني منابع



د هیواد په اقتصاد کې له کانونو څخه گټه اخیستل څه اهمیت لري؟

افغانستان بېلابېل کانونه، لکه: نفت، طبیعي گاز، د ډبرو سکاره، اوسپنه، مس، سره زر(طلا)، سپین زر، سرپ، جست، مالگه، سلفر، قیمتي ډبرې او د مرمرو ډبرې لري.

اوسپنه

اوسپنه د ځمکې پرمخ (قشر) کې ډېره په نصواري، سور، تور او ژېړ لیمویي رنگونو پیداکېږي. افغانستان د اوسپنې زیات کانونه لري چې ډېر مهم یې د حاجیگک د اوسپنې کان دی چې د اوسپنې اندازه یې په سلو کې ٦٣ ته رسېږي. همدا رنگه د اوسپنې کانونه په ارزگان، د کندهار په خاکریز، د جوزجان په فیض آباد، پکتیا، هرات او د پروان په جبل السراج کې پیداکېږي. زموږ د هیواد پښگران په لاسي صنایعو کې له اوسپنې څخه د بزگرۍ، ترکاڼۍ او د کورونو د کار وسایل جوړوي.

مس

په لرغونو زمانو کې د وسلو او د ډبرو او لرګیو د وسایلو ځای د مسو سور رنګه نرم فلز ونیو او انسانانو یو ګام د پرمختګ په لور کېښود. د مسو کانونه زموږ د هیواد د لوګر په عینکو، د میدان په کهنه خمار، د کابل په منار چکري،

له مسو ګټه اخیستل

د کندهار په خاکریز، غوربند، بدخشان او د بلخ په ولایتونو کې شته دي. مس د برېښنا او حرارت قوي هادي دي. د هغه له سیمونو څخه د برېښنا په لینونو کې ګټه اخیستل کیږي. زموږ د هېواد مسګران له مسو څخه واړه او غټ مسي دیګونه، چلوصافونه، غوري، آبګردان، ځمڅۍ، کفګیر، کاچوغې، آفتابه او د لاس مینځلو لګن او نور د اړتیا وړ شیان جوړوي.

سره زر

د سرو زرو قیمتي فلز، ښه رنګ او په زړه پورې ځلا لري. سره زر زنګ نه اخلي. د پیسو لوی ملاتړي دي. له هغوڅخه ډول، ډول د ښځو ګاڼې جوړوي. سره زر په زابل، کندهار او بدخشان په ولایتونو او د کوکچې د سیند په غاړو کې شته دي.

سپین زر

سپین زر لکه سره زر زنګ نه نیسي، د برېښنا او تودوخې قوي هادي دي. د ګاڼو په توګه ډېر استعمالیږي. کانونه یې په پنجشیر، د هرات په سیم غره او د کندهار په بي بي ګوهر سیمو کې شته دي.

قیمتي ډبرې

لاجورد د بدخشان ولایت په غرونو کې له لرغونو زمانو څخه پېژندل شوي او له هغو څخه ګټه اخیستل کېده. د بدخشان لاجورد نړیوال شهرت لري او له ۱ څخه تر ۵ درجو وېشل شوي دي. له هېواد څخه بهر ته صادرېږي.

یاقوت، لال، د بدخشان لاجورد او د پنجشیر زمرد نه یوازې د هېواد په قیمتي ډبرو کې، بلکې په سیمه او نړۍ کې شهرت لري او ډېر پېرودونکي لري.

د سرپو او جستو کانونه

نوموړي کانونه په هزاره جاتو، د هندوکش د غرو په لمنو، بلخ، بدخشان او کندهار کې موندل کېږي.

د مالګې کانونه

د مالګې کانونه د تخار په تالقانو، د جوزجان په اندخوی، هرات، مزارشریف او د غزني د مقر په سیمو کې شته دي. د ډبرو شین رنګه، شنه بخنه ډبرینه غرنۍ مالګه د هزاره جاتو په سیمو کې پیداکېږي. د تالقانو او د هزاره جاتو له ډبرینې مالګې څخه د خوړو په توکو کې زیاته ګټه اخیستل کېږي.

سلفر

د سلفر یا ګوګړو کان د (۶۰۰) ټنو په ظرفیت په مزارشریف او یوه اندازه یې د بدخشان په اشکاشم کې تثبیت شوي دي.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په څلورو ډلو وویشل شي، هره ډله دې؟ د افغانستان د کانونو د دوو عنوانو په هکله سره بحث وکړي او پایلې دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

پوښتنې

۱-د لاندې جدول هر یو کان د افغانستان په کومو سیمو کې ډېر دي؟ هر کان په خپلو کتابچو کې د یوې کرښې په وسیله له اړوندې سیمې سره ونښلوئ

کانونه	جغرافیایي سیمې
اوسپنه	ــــ زابل او کندهار
مس	هزاره جات او د هندوکش د غرو لمنې
سره زر	ــ د ارزګان ولایت او د بامیان حاجیګک
سپین زر	د تخار تالقان او د جوزجان اندخوی
قیمتي ډبرې	د لوګر عینک، د میدان کهنه خمار، پنجشیر او بدخشان
سرپ او جست	ــــ مزارشریف
مالګه	ـ د بدخشان غرونه
سلفر	پنجشیر او د هرات سیم غر

۲- د اوسپنې د کانونوارزښت او اهمیت بیان کړئ.

۳ـ د مسو د کانونو ډېرې مهمې ځانګړتیاوې بیان کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

هر زده کوونکی دې د خپلې سیمې د یوه کان په هکله معلومات راټول او د جغرافیې په راتلونکي درسي ساعت کې دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

کاني سون مواد

د ډېرو د سکرو کان

ستاسو په نظر د ډېرو سکرو د پیدایښت منشاء له څه نه ده؟

د ډېرو سکاره

د ډېرو سکاره نباتي منشاء لري او د رسوبي ډېرو له جملې څخه دي چې د سون موادو په توګه ور څخه کار اخیستل کېږي. زموږ د هېواد د ډېرو سکرو کانونه د هندوکش د غرو له رامنځ ته کېدو سره یوځای منځ ته راغلي دي. په هغه وخت کې د ځنګلونو وېجاړې شوی پاتې شونې د ډېرینو طبقاتو په منځ کې واقع شوي وو او د ډېر فشار او تودوخې له امله په یوې اوږدې مودې کې د هوا د نشتوالي له امله په ډېرو سکرو باندې اوښتي دي چې اوس د سمنګانو په دره صوف، د پلخمري په کرکر، د سیغان درې په اشپشتې، د هرات کرخ او د تخار په بنګي کې یې لویې زېرمې تثبیت شوي دي. د صوف د درې د ډېرو سکرو له کان څخه د امیر عبدالرحمن خان له دورې څخه په ابتدایي شکل سره ګټه اخیستنه پیل شوې ده او زېرمه یې ۷۶ میلیونو ټنو په شاوخوا کې تثبیت شوې ده. د پلخمري د کرکر د ډېرو د سکرو کان زېرمه چې د کوک ښه جنس لري د څلور میلیونو ټنو په ظرفیت اټکل شوې ده. د هرات د کرخ سکاره د سبزک د غاښې په لمنو کې پراته دي. د بنګي د سکرو زېرمې تر اوسه پورې لاس نه دي خوړلې.

نفت

له نفتو څخه څه ګټه اخيستل کېږي؟

دا توکي حيواني منشاء لري چې د سمندري حيواناتو له اجسادو څخه چې په يوه اوږده موده کې د ځمکې د رسوبي طبقاتو په منځ کې د زيات فشار لاندې واقع او خوسا شوي په لاس راغلي. د نفتو له چاڼيدو څخه، د الوتکو تېل، ډيزل د ډيزلي ماشينونو د سون لپاره، پټرول د پټرولي ماشينونو د سون لپاره، د خاورو تېل او نور مشتقات يې، لکه: مبلايل، ګريس، وايکم، قير، واسلين او داسې نور لاس ته راځي.

په افغانستان کې د ۱۳۱٤ هـ ش کال څخه تر ۱۳٤۳ هـ ش پورې د طبيعي ګاز او نفتو پلټل شوي او په پايله کې څرګنده شوه چې د تخار د رستاق له ولسوالۍ څخه د ايران تر سرحده د آمو سيند تر ختيځ، لوېديځ او سويل، د ترکستان له تيربند څخه ترشمالي لمنو، لوېديځ هندوکش او د بابا تر غره پورې د نفتو د پيدايښت لپاره سيمې برابرې دي. د نفتو زېرمې په رستاق، تالقان، د ميرعلم په ابدان، شبرغان، ميمنې، هرات او هلمند کې تثبيت شوي دي.

طبيعي ګاز

طبيعي ګاز په جوزجان ولايت کې د خواجه ګوګردک، يتيم تاق، خواجه برهان اوجر قدوق په سيمو کې شته دي چې پخوا يې را ايستنه د روسانو په وسيله شوې او يوه برخه يې د پايپ لين په وسيله پخواني شوروي ته صادرشوي وو.

د طبيعي ګاز له سوزولو څخه په ځمې کې د کورونو په تودولو، د غذايي موادو په پخولو او د ګازي څراغونو په روښانولو کې ګټه اخيستل کېږي.

د ټولګي فعاليت

زده کوونکي دې په درې ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د يوه کان د ډبرو د سکرو، نفت او طبيعي ګازو په هکله سره بحث وکړي او پايله دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

پوښتنې

۱ـ د افغانستان له کومو برخو څخه د ډبرو سکاره لاسته راځي؟

۲ـ د نفتو د پيدايښت د منشاء په هکله څرګندونې وکړئ.

۳ـ د طبيعي ګازونو له سوزولو څخه څه ګټه اخيستل کېږي؟

له ټولګي څخه بهر فعاليت

هر زده کوونکی دې په افغانستان کې د سون د موادو د اهميت په هکله معلومات راټول او د جغرافيې په راتلونکي درسي ساعت کې دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

په افغانستان کې صنایع او سوداګري

غالی

د هېواد د لاسي صنایعو په هکله څه معلومات لرئ؟

تعریف

صنعت په ګټورو توکو باندې د لومړنیو توکو د شکل له بدلون څخه عبارت دی. دا لومړني توکي کېدای شي کرنیز، حیواني او یا کاني محصولات وي چې د تولیدي مالونو لپاره کارخانو ته وړل کېږي. صنعت پر دوو برخو وېشل کېږي: لاسي صنایع او ماشیني صنایع.

الف ـ لاسي صنایع

د ډېرو لرغونو زمانو څخه چې زموږ نیکونه په کرنې بوخت شول، د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې په لاسي صنایعو لاس پورې کړ. دا کار یوه ښه بوختیا ده او د خلکو د ستونزو د له منځه وړلو لپاره د پیسو پیداکول و. شپږ زره کاله مخکې، د بلخ کروندګرو رسیدلي غنم او وربشې د هغه لور په وسیله رېبلي چې د چقماق له ډبرو څخه جوړ شوی و. د نولسمې پېړۍ په وروستیو وختونو کې زموږ د هېواد په سلوکې ۹۸ خلک په کلیوالي ژوند بوخت وو او له لاسي صنایعو څخه یې ګټه اخیستله

هغوی د پخولو او تارتاوولو او اوبدلو فن زده کړ.

په لاسي صنايعو کې يې له حيواني سرچينو تر لاسه شوې وړۍ، پت، پوستکي او وريښم له نباتي منابعو، لکه: پنبې او سنډ او کاني منابعو، لکه: اوسپنې، مسو، سرو زرو، سپينو زرو او خاورو څخه کار اخيست.

غالۍ اوبدل

د غالۍ اوبدل له لرغونو زمانو څخه تر اوسه پورې زموږ د هېواد د شمالي برخو د خلکو تر منځ رواج لري. د فارياب د دولت آباد، اندخوی، اقچې او د بلخ د دولت آباد خلک د ښو او عالي جنس او په زړه پورې ډيزاين او رنګ لرونکو غاليو جوړولو او اوبدلو کې ډېر مهارت لري او په قرقين، کندز او هرات کې هم غالۍ اوبدل رواج لري. د مروې، د فارياب دولت آباد، اندخوی او اقچې په نامه غالۍ ډېر کورني او بهرني پيرودونکي لري.

د غالۍ ښه جنس، زموږ د هېواد د صادراتو ستر او مهم قلم جوړوي چې هند، پاکستان، اروپا، روسيې او امريکا ته صادرېږي.

فلزکاري

زموږ د هېواد پښګران له اوسپنې څخه د کرکيلې، ترکاڼۍ او د کورونو د اړتيا وړ وسايل جوړوي. د دې وسايلو په منځ کې د کابل د ده دانا د پښګرانو يوم او د چاريکارو او لغمان د حيدر خانيو د پښګرانو چړې شهرت لري. زموږ د هېواد فلزکاران د موټرو په ترميم، د دروازو، کټارو او اوسپنې زينو په جوړولو او د ودانيو په سيم کارولو کې شهرت لري.

ب ـ په افغانستان کې ماشيني صنايع

افغانستان د ماشيني صنايعو له نظره د مخ پر ودې هېوادونو له ډلې څخه دی. د ماشيني صنايعو بنسټ لومړی ځل د امیر شیرعلي خان په دوره کې کېښودل شو. د امیر عبدالرحمن خان په دوره کې دوه صنعتي فابریکې د ماشین خانې او ورې اوبدلو د فابریکو په نامه تاسیس شوې چې د هغو تولیداتو د عسکري قطعاتو اړتیا پوره کوله. د افغانستان د نورو مهمو ماشيني صنايعو په لړ کې کولای شو د کابل جنګلک فابریکې، د بغلان بورې جوړولو فابریکې، د کندز د سپین زر غوړي، د مزارشریف د کود او برق کارخانه، د سمنټو فابریکې، د اوبو د برېښنا د دستګاوو، لکه: نغلو، سروبي، درونټې، ماهیپر، کجکي او ګرشک نومونه واخلو.

د افغانستان سوداګري

ستاسو په نظر سوداګري د اقتصاد په وده کې څه رول لري؟

د هرهېواد پرمختیا او پرمختګ د کورنیو تولیداتو په زیاتوالي او ډولونو پورې اړه لري. په هره اندازه چې تولیدات ډول ډول او صادرات زیات وي په همغه اندازه یو هېواد په ځان بسیا او خلک یې په هوسایۍ او آرامتیا کې ژوند کوي او د پیسو ارزښت او قدرت یې زیاتوالی مومي.

له خپلواکۍ څخه وروسته په ۱۲۹۸ هـ ل کې زموږ په هېواد کې پر سوداګرۍ باندې خارنې ته پاملرنه وشوه. افغاني استازي مسکو، لندن، برلین،انقرې او تهران ته ولېږل شول، ترڅو په سوداګرۍ کې آسانتیاوې منځ ته راشي او د افغانستان صادرات په زیاته اندازه بهرته صادر شي. زموږ د هېواد صادرات په لومړۍ درجه کې حیواني محصولات، لکه: وړۍ، پوستکي،کولمې، د قره قل پوستکي، غالۍ، ټغرونه او په دویمه درجه نباتي محصولات، لکه: تازه او وچې مېوې همدارنګه قیمتي ډبرې او طبي نباتات دي چې بېلابېلو هېوادونو ته صادرېږي.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په بېلابېلو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د لاسي یا ماشیني صنایعو پر یوه ډول باندې سره بحث وکړي او پایله دې خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱ـ صنعت تعریف کړئ.
۲ـ د غالۍ اوبدلو صنعت د هیواد په کومو سیمو کې ډېر رواج لري؟
۳ـ د افغانستان د غوره ماشیني صنایعو نومونه واخلئ.
۴ـ د هېواد اقتصاد څه وخت وده کولای شي؟
۵ـ دافغانستان د غوره صادراتي محصولاتو نومونه واخلئ او کومو هېوادونو ته صادرېږي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

ستاسو په ولایت کې کوم لاسي او ماشیني صنایع رواج لري؟ په اړه یې خپل معلومات راټول او د جغرافیې په راتلونکي درسي ساعت کې یې په ټولګي کې بیان کړئ.

خلورویشتم لوست

مواصلاتي جغرافیه



د وچې مواصلاتي لاره

ستاسو په نظر لارې او د ورځو او راوړلو وسایل د خلکو په ژوند کې څه اهمیت لري؟

لاره

لاره یوه ارتباطي وسیله ده او د یوه هېواد په اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي پراختیا کې مهم عامل شمېرل کېږي. د لارو رول د کلتور او تمدن په پراختیا او د قومونو او ملتونو په نژدیوالي کې زیات ارزښت لري. لاره د شتمنیو د زیاتیدو وسیله ده، کرنیز او صنعتي تولیدات د لارو په وسیله له تولیدي سیمې څخه لګښتي سیمې ته رسول کېږي.

د افغانستان مواصلاتي لارې په درېو برخو ویشل کېږي:

۱ـ وچې لارې ۲ـ هوایي لارې ۳- د اوبو لارې

په افغانستان کې ډول، ډول موټرونه په سرکونو او ډول ډول الوتکې په هوایي کرښو کې د خلکو او مالونو د لېږدولو لپاره فعالیت کوي. په افغانستان کې د موټرو د بېلابېلو ډولونو له واردولو څخه د مخه، زموږ په هیواد کې کورني او بهرني سوداګریز مالونه د حیواناتو، لکه: اوښ، آس، او کچرو د

کاروان په وسیله ترسره کیده. کله چې د امیر حبیب الله خان په دوره کې موټر هېواد ته وارد او ډول ډول باروړونکي او ګرځندي موټرونه زموږ په هېواد کې زیات شول او دسرکونو جوړول هم پیل شول. نو له هغه وخته تر اوسه پورې د (۱۵۰۰۰) کیلو مترو نه زیات د موټر د تګ سرکونه جوړشوي چې کابو نیم یې پاخه او کانکریټي دي او نور سړکونه یې خامه دي چې د هېواد بېلابېلې سیمې سره نښلوي. په افغانستان کې د سوداګریزو مالونو لېږدونه د سرحدي بندرونو له لارې، لکه: تورخم، سپین بولدک، اسلام کلا، تورغنډۍ او د آمو د سیند د غاړو بندرونو تاشګذر، شیرخان بندر، حیرتان او کلفت نه کېږي.

دا سرکونه او لویې لارې د کرنیزو، صنعتي او د سوداګریز مالونو د پراختیا سبب ګرځېدلي چې د سویلي او منځنۍ آسیا د هېوادونو ترمنځ اړیکې ټینګوي.

د مهمو سرکونو جدول چې کابل د هېواد له بندرونو او ولایاتو سره نښلوي(اضافی معلومات)

شمېره	د سرک نوم	واټن په کیلومتر
۱	کابل ـ کندهار	۴۸۳
۲	کندهار ـ هرات تورغنډۍ	۶۷۹
۳	هرات ـ اسلام کلا	۱۲۴
۴	کندهار – سپین بولدک	۱۰۴
۵	کابل – تورخم	۲۳۱
۶	کابل – شیرخان بندر	۴۰۵
۷	پلخمري- مزار شریف - شبرغان	۳۶۰
۸	کابل – ګردیز	۱۳۲
۹	ګردیز – خوست	۱۱۷

هوايي حمل او نقل

د الوتکو کورنی او بهرنی الوتنې د خلکو په ژوند کې څه اهمیت لري؟

د کرښو هغه تګلوري چې الوتکې يې په فضا کې له يوه ښاره تر بله ښاره پورې وهي هوايي لارې او هوايي کرښې ورته ويل کېږي. الوتکه د مسافرت ډېره چټکه او آرامه وسيله ده چې مسافران، قيمتي او نازک سوداګريز توکي په کم وخت کې نورو لېرې او نيژدې سيمو ته وړي. په ۱۲۹۸ هـ لمريز کې وروسته له دې چې د هېواد خپلواکي ترلاسه شوه د آلمان او روسيې له هېوادونو څخه الوتکې و پيرودل شوې او لومړنی هوايي ډګر د کابل د ښار په خواجه راوش کې جوړ شو. اوس ډول، ډول ملکي او پوځي الوتکې د هېواد په دننه او بهر کې د مسافرينو او سوداګريزو مالونو په لېږدولو، الوتنو او فعاليت بوختې دي.

کورنی الوتنې له کابل څخه ولايتونو او هغو سيمو ته ترسره کېږي چې هوايي ډګرونه پکې جوړ شوي دي. بهرنی الوتنې له کابل نه اسلام آباد، نوي ډيلي، تهران، دوبی، شارجې، اورمچی، فرانکفورت او له نومړو ښارونو څخه بيرته کابل او کندهار نړيوالو ډګرونو ته ترسره کېږي. د کابل د خواجه رواش ميدان کانکريټي او د کندهار ميدان قير شوي دي. وروسته د ننګرهار، کندز، مزارشريف، هرات او پکتيا هوايي ډګرونه جوړ شول. د هېواد په بېلابېلو سيمو کې نور هوايي ډګرونه خام دي. وروستی هوايي ډګر په ۱۳۷۶ هـ ل کې په باميانو کې د (شيبرتو) په نامه جوړ شوی دی.

په هوايي ډګرونو کې الوتکې، د الوتلو کرښې (Runway)، ترمينال، مخابراتي وسيلې، نقليه وسايل د الوتکو زينه، هوټل، د مسافرينو خونې او فني او مسلکي پرسونل شته دي.

د آريانا ملي هوايي شرکت په ۱۳۳۳ هـ لمريز کال کې چې په سلو کې ۵۱ پانګه يې د افغانستان ملي پانګه او په سلو کې ۴۹ يې د انديمار د کمپنی په پانګې چې وروسته يې ځای پان امريکن ونيو (دآريانا افغان الوتنه) په نامه جوړ شو. په لومړيو کې د اکوتا ډوله الوتکو چې د دېرش تنو ظرفيت يې درلود په

کورنیو او بهرنیو ډګرونو کې یې کار پیل کړ. وروسته بل ملي شرکت (د باختر افغان الوتنې) په نامه جوړ شو چې اوس فعالیت نه لري. زموږ په هېواد کې اوس څینې خصوصي هوایي شرکتونه هم فعالیت لري.

د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په دوو بېلابېلو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د وچې او هوایي لارو څخه پر یوې باندې بحث وکړي او پایله دې خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱ـ د لارو اهمیت بیان کړئ؟

۲ـ افغانســتان ته د موټرو له وارداتو نه مخکې کورنۍ او بهرنۍ ســوداګري د څه شي په وسیله ترسره کېده؟

۳ـ له هوایي کرښو څخه مقصد څه دی؟

٤ـ د کابل نه د الوتکو الوتنې کومو کورنیو او بهرنیو ښارونو ته کېږي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

د لغتونو او اصطلاحاتو عددونه د الفبا د اړوندو تورو سره په خپلو کتابچو کې ونښلوئ او ویې ولیکئ.

۱	الوتکه	الف	په دریو برخو د وچې، هوایي او د اوبو لارو ویشل شوي دي.
۲	موټر	ب	د موټر له وارديدو او سرک جوړولو نه مخکې سوداګريز مالونه د حیواناتو په واسطه، لکه: اوښ، آس او کچر له یوه ځایه بل ځای ته وړل کیده.
۳	د څارویو کاروان	ج	پر سرک تګ او راتګ کوي خلک او مالونه لېږدوي.
۴	د افغانستان بندونه	د	په هوایي الوتنو کې مسافرین، نازک او قیمتي مالونه په کم وخت کې په آرامه توګه له یوه ځایه بل ځای ته لېږدوي.
۵	لارې	هـ	د کرنیزو، صنعتي او سوداګریزو مالونو د ودې او د سویلي او منځنۍ آسیا په منځ کې اړیکې ټینګوي.

د څپرکي لنډیز

– افغانستان غرنی هېواد دی چې د آسیا د لویې وچې په سویل کې د (۶۵۲۰۰۰) کیلومتره مربع په پراخوالي سره پروت دی.

- د افغانستان دریمه برخه خاوره غرنۍ ده او ځینې برخې یې هوارې دي.

- د افغانستان یوڅه برخه خاوره د مارګو، سیستان، بکوا او داسې نورو دښتو نیولې ده.

- افغانستان د جغرافیايي موقعیت او طبیعي جوړښت له نظره په شپږو اقلیمي سیمو صحرایي،غرني، مونسون، مدیترانه یي، ستپي او توندرا باندې ویشل شوی دی.

- د افغانستان د غرونو غوره لړونه هندوکش، د بابا غر، سفید کوه، تور غر او سپین غر دي چې د کاني توکو د لویو زېرمو لرونکي، د ډېرو سیندونو سرچینه او د هېواد پر آب و هوا ډېره اغیزه لري.

- د افغانستان سیندونه په پنځو اوبه لرونکو حوزو کابل، آمو، هلمند، هریرود او ترلو حوزو باندې وېشل شوي دي.

- د افغانستان ډېر اوږد سیند د هلمند سیند دی چې د بابا د غره له لوېدیځو لمنو څخه سرچینه اخلي او لوېدیځ لور ته بهیږي.

- د هریرود سیند د افغانستان او ایران ترمنځ له اسلام کلا څخه د ذوالفقار تر سیمې پورې طبیعي پوله جوړوي.

- د افغانستان په ځینو برخو کې چې ترلې حوزې لري جهیلونه منځ ته راغلي دي، لکه: د سیستان هامون، د شیوا جهیل، د زرقول جهیل، د امیر بند او د غزني ولاړې اوبه.

- افغانستان یو پراخه هېواد دی چې د وګړو وېش یې په ټولو ځایونو کې یوشان نه دی، ختیځې سیمې د نفوسو نه ډکې او سویل لوېدیځې او مرکزي سیمې یې کم نفوسه دي.

- افغانستان کرنیزهېواد دی. ډېر مهم حاصلات یې غنم، وریجې، جوار، اوربشې او نور دي.

- جغرافیايي موقعیت او طبیعي ځانګړنو ته په پام سره په افغانستان کې صنعتي او طبي نباتات لکه: پنبه، چغندر، ګنې، زعفران، خوږه وله، سپیرکی، بادیان او نور په کې وده کوي.

- د څارویو ساتل، د افغانستان له منابعو څخه یوه مهمه سرچینه ده چې پسونه، وزې، د قره قل پسونه، غواګانې او نور پکې شامل دي.

- افغانستان بېلابېل کانونه، لکه: اوسپنه، مس، سره زر، سپین زر، قیمتي ډبرې، سرپ، جست، مالګه او سلفر لري.

- افغانستان د سون بېلابېل کاني توکي، لکه: د ډبرو سکاره، نفت او طبیعي ګاز لري چې د هېواد د اقتصاد په ودې او پرمختیا کې مهم رول لري.

- په افغانستان کې صنایع په دوو برخو لاسي صنایعو (د غالۍ اوبدل...) او ماشیني صنایعو (د کابل جنګلک فابریکه او ...) وېشل کیږي.

- په افغانستان کې ډول ډول موټرونه پر سړکونو او وچو لارو کې او راز، راز الوتکې په هوایي کرښو کې د مسافرینو او سوداګریزو مالونو د لېږدولو لپاره فعالیت کوي.

دریم څپرکی

د آسیا لویه وچه



د دې څپرکي موخې

له زده کوونکو څخه هیله کېږي چې ددې څپرکي له ویلو وروسته:

- په نړۍ کې د آسیا د لویې وچې له موقعیت سره بلد شي.
- د آسیا طبیعي جغرافیې په اړه معلومات پیدا کړي.
- د آسیا له بشري جغرافیې سره بلد شي.
- د آسیا د لویې وچې اقتصادي جغرافیې سره بلدشي.
- د آسیا د لویې وچې د حمل او نقل په اړه معلومات پیدا کړي.
- د آسیا د لویې وچې له سیاسي جغرافیې سره بلد شي.
- د آسیا د لویې وچې له اقلیم سره بلد شي.
- د آسیا په لویه وچه کې د اقتصادي شتمنیو په اړه معلومات پیدا کړي.
- د آسیا د لویې وچې له مهمو سیندونو، سمندرګیو او جهیلونو سره بلد شي.

له زده کوونکو څخه هیله کېږي چې د دې څپرکي په لوستلو سره لاندېنیو مهارتي موخو ته ورسېږي:

- د آسیا د لویې وچې انځورول او په هغې کې د سرحدونه، سمندرګي، مهم سیندونه، جهیلونه، غرونه او داسې نور په نښه کړای شي.
- د آسیا د لویې وچې د نقشې پرمخ طبیعي شیان وښودلای شي.
- د سپینې نقشې پرمخ سرحدونه، سمندرګي، مهم سیندونه، جهیلونه او غرونه په نښه کړای شي.

د آسیا د لویې وچې موقعیت او څلور خواوې



د آسیا نقشه له څلورو خواوو سره یې

آیا پوهیږئ چې آسیا تر ټولو لویه وچه ده؟

د آسیا لویې وچې زیاته برخه په ختیځ او شمالي نیمه کره کې موقعیت لري. د آسیا لویه وچه د ختیځ طول البلد د ۲۵ درجو او د لویدیځ طول البلد د ۱۷۰ درجو په منځ کې، د جنوبي عرض البلد د ۱۰ درجو او د شمالي عرض البلد په ۸۰ درجو کې پرته ده. پراخوالی یې ۴٤،۲ میلیونه کیلومتره مربع دی. د آسیا د لویې وچې په شمال کې کنګل شوی شمالي سمندر، جنوب خواته یې د هند سمندر او ختیځ خواته یې آرام سمندر پروت دی. لویدیځ خواته د آسیا او اروپا د لویو وچو په منځ کې د اورال غرونه، د اورال سیند، د کسپین سمندرګی، تور سمندرګی او د باسفورس آبنا جوړه وي. د جنوب لویدیځ خواته سورسمندرګی او د سویز کانال آسیا له افریقا څخه بېلوي. د شمال ختیځ خواته یې د بیرنګ آبنا آسیا د امریکې له لویې وچې نه جلا کوي.

د آسیا او اروپا لویې وچې یوځای د یوریشیا په نامه هم یادوي. څرنګه چې خلکو د آسیا اروپا او افریقا دریو لویو وچو په اړه له پخوا څخه معلومات درلودل، نو ځکه د لرغوني نړۍ په نامه هم د

هغو یادونه شوې ده.

د آسیا لویه وچه درې لوېې ټاپو وزمې لري چې هغه دا دي: د عربستان ټاپو وزمه، د هند ټاپو وزمه او د هند و چین ټاپو وزمه. په دې لویه وچه کې د نړۍ ډېرې لوړې څوکې پرتې دي.

د آسیا لویه وچه د لرغونو تمدنونو او دینونو زانگو ده. د نړۍ خلك آسیا د کلدي، آشور او بابل د لرغونو تمدنونو سره پېژني. د کتني وړ او تاریخي آثار، لکه: په مکه معظمه کې د کعبې خونه او د اسلام د ستر پیغمبرحضرت محمدﷺ زیارت په مدینه منوره کې ډېر اهمیت لري. حضرت آدم او بي بي حوا علیهما السلام په آسیاکې ژوند کاوه. د الله پاك لوی او مهم دینونه لکه: د اسلام مقدس دین، د عیسویت او یهودیت دینونه او لوی ائینونه لکه: بودیزم، کنفیسوس او نور په دې لوېې وچې کې منځ ته راغلي دي.

د ټولگي فعالیت

زده کوونکي دې په بېلابېلو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د ټولگي په مخ کې د آسیا جغرافیایي موقعیت، شاوخوا سمندرونه، کانالونه، آبناگانې او ټاپو وزمې د نقشې پرمخ وښیي.

پوښتنې

١ ـ د آسیا د لوېې وچې د شاوخوا سمندرونو نومونه واخلئ؟

٢ ـ تش ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ:

الف ـ د .... غرونه د آسیا او اروپا د لویو وچو په منځ کې طبیعي سرحد جوړوي.

ب ـ د .... سمندرگی او .... کانال آسیا له افریقا نه بېلوي.

ج ـ د .... آبنا آسیا د امریکا له لوېې وچې نه جلا کوي.

٣ ـ د آسیا د درېو ټاپو وزمو نومونه واخلئ.

له ټولگي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د آسیا د لرغونو تمدنونو او بېلابېلو دینونو په اړه معلومات را غونډ کړي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې په ټولگي کې واوروي.

د هماليا غر

د آسيا د غرونو په اړه څه پوهېږئ؟

د آسيا لويه وچه لوړ غرونه، لوړې سطحې او پراخې دښتې لري. د آسيا ټولې لرغونې برخې د جيولوژي په دويمه دوره کې د يوه لوی سمندر تر اوبو لاندې وې او د تيتس په نامه يادېدې چې د ارال او بالخاش جهيلونه او د کسپين او تور سمندرگی، د تيتس د سمندر د پاتيشونې برخه ده. اوس د تيتس سمندر له منځه تللی او د هغه پرځای د آسيا لويه وچه پرته ده. د آسيا د لويې وچې غرونه د پامير له لوړې برخې نه پيل شوي، ختيځ خواته د چين ترختيځ د سايبريا تر جنوب ختيځ او لوېديځ خواته د ترکيې تر آخره پورې پراته دي.

د آسيا ډېر جگ غرونه د هند په شمال کې د هماليا غرونه دي چې له ختيځ څخه مخ پر لويديځ پراته دي. جگه څوکه يې د ايورست په نامه يادېږي چې د سمندر له سطحې څخه ۸۸٤۸ متره لوړوالی لري. د هماليا د غرونو لوېديځ خواته په افغانستان کې د هندوکش غرونه، په ايران کې د البرز او زاگروس غرونه، قفقاز غرونه او په ترکيه کې د پونتيک او اناتولي غرونه پراته دي. همداراز ختيځ خواته د چين په شمال کې د تيانشان او د التايي لوړ غرونه دي. د مغولستان، تبت، گوبي او پامير لوړې برخې چې د آسيا د

لويې وچې په منځنۍ برخه کې پرتې دي، د آسيا ډېره لويه جگه سطح جوړوي. همداراز د آسيا لويه وچه پراخې دښتې لري چې هغه دا دي:

د مغولستان دښتې، د ايران د کوير او لوت دښتې، د سوريې او عراق دښتې او په عربستان کې د ر بع الخالي دښتې:

د ټولگي فعاليت

زده کوونکي دې په بېلابېلو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د آسيا د طبيعي شيانو له جملې څخه يو، لکه: غرونه، دښتې، جهيلونه او د تيتس له سمندر نه پاتې سمندرگی او د آسيا لوړې سطحې د نقشې پرمخ وښيي.

پوښتنې

١ ـ د هندوکش د غرونو لړۍ په کوم هېواد کې ده؟ او کوم لورته غځېدلې ده؟

٢ ـ د هماليا غر د آسيا په کومه برخه کې پروت دی او جگه څوکه يې څومره لوړوالی لري؟

٣ ـ د ايران او ترکيې غرونه په څه نامه يادېږي او کومو خواووته پراته دي؟

٤ ـ د تيتس سمندر په کوم ځای کې و او څه نښه يې پاتې ده؟

٥ ـ د آسيا د دښتو نومونه واخلئ.

له ټولگي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د يوه چوکاټ په منځ کې د پامير لوړه سطح په نښه کړي، وروسته دې د آسيا د غرونو نومونه وليکي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې په ټولگي کې ولولي.

اووه ویشتم لوست

د آسیا د لویې وچې د سیندونو په اړه څه پوهېږئ؟

که څه هم د آسیا په لویه وچه کې پراخې دښتې پرتې دي، خلک د اوبو د نشتوالي له امله له ستونزو سره مخامخ دي، خو بیا هم د آسیا لویه وچه ډېر سیندونه لري. د آسیا سیندونه د بهیر له مخې چې سمندرونو خواته روان دي په څلورو حوزو وېشل کېږي.

۱ ـ هغه سیندونه چې د سایبریا د جنوب له غرونو څخه سرچینه اخلي او له سویل څخه مخ پر شمال بهېږي او شمالي کنګل سمندرته ور تویېږي او له لوېدیځې نه مخ پر ختیځ دا دي: د ob اوب، ینسی او لینا سیندونه. د دې سیندونو اوبه کله، کله شمالي کنګل شوي سمندر ته نژدې کنګل وهي.

۲ ـ هغه سیندونه چې د آسیا ختیځ خواته بهېږي او د آرام سمندر، سمندرګیو ته تویېږي په ترتیب سره د شمال نه سویل خواته ځې دا دی: د آمور سیند چې د مغولستان له شمالي غرونو څخه سرچینه اخلي او د ولادی واستوک بندر ته نژدې د اخوتسک سمندرګي ته تویېږي. د هوانګهو سیند چې د منځني چین له غرونو څخه سرچینه اخلي او د چیهلي په خلیج کې چې د کوریا د خلیج په لوېدیځ کې پروت دی، تویېږي.

د میکانګ سیند چې د سویلي چین له غرونو څخه سرچینه اخلي او د کمبودیا په سویل کې د سویلي چین سمندرګي ته تویږي.

۳ ـ هغه سیندونه چې د آسیا له ختیځ نه لوېدیځ ته د هند د سمندر، سمندرګیو، د عربو سمندرګي او د فارس خلیج ته تویږي دا دي:
ایراوادي له میانمار څخه د مارتابان خلیج ته تویږي. د ګنګا سیند چې هندیانو ته سپیڅلی دی او د بنګله دېش په څنګ کې د بنګال خلیج ته تویږي. د سند سیند چې د عمان په سمندرګي کې تویږي د کارون سیند او د دجلې او فرات سیندونه چې شط العرب (اروند رود) جوړوي او وروسته د فارس خلیج ته ورتویږي.

٤ ـ هغه سیندونه چې د آسیا په داخلي جهیلونو کې تویږي دا دي:
آمو (جیحون) او سیردریا (سیحون) چې د ارال په جهیل کې تویږي. د اورال سیند چې د آسیا او اروپا په سرحد کې بهیږي د کسپین په سمندرګي کې تویږي.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په څلورو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې له پورتنیو سیندونو څخه په یوه باندې په خپل منځ کې سره بحث وکړي او د نقشې پرمخ دې مطلب په ټولګي کې بیان کړي.

پوښتنې

۱ ـ د آسیا سیندونه په څو برخو وېشل شوي دي؟
۲ ـ د آسیا د شمالي برخې د سیندونو نومونه واخلئ.
۳ ـ هغه سیندونه چې د آرام سمندر، سمندرګیو کې تویږي نومونه یې واخلئ.
٤ ـ هغه سیندونه چې په بنګال خلیج او عربو سمندرګي کې تویږي نومونه یې واخلئ.
۵ ـ د افغانستان کوم سیند په ارال جهیل کې تویږي؟
٦ ـ هغه سیندونه چې د فارس په خلیج کې تویږي نومونه یې واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

له سیندونو نه څه ګټه اخلو؟ په دې اړه یوه مقاله ولیکئ او په راتلونکي درسي ساعت کې یې په ټولګي کې ولولئ

د آسيا د لويې وچې جهيلونه، سمندرگي او خليجونه

آيا پوهېږئ چې د اسيا به لويه وچه کې کوم ستر سمندرگی او جهيلونه موقعيت لري؟

د آسيا مهم جهيلونه اکثراً د روسيې په سايبريا، چين، قزاقستان، منځنۍ آسيا، سهيل ختيځ او لوېديځ آسيا کې پراته دي چې مهم يې دا دي:

په سايبريا کې د بايکال جهيل چې د انگارا د سيند په اوږدو کې منزالي اوبه لري، اعظمي اوږدوالى يې ۷۰۰ کيلومتره او سور يې ۱۳۰ کيلومتره دى.

د خانکا جهيل د چين په ختيځ کې، په قزاقستان کې د بالخاش او ارال جهيلونه نامتو دي.

په قرغزستان کې د بسيک کول جهيل مشهور دى.

په افغانستان کې د چقمقتين او شيوا جهيلونه، د امير بند، د غزني ولاړې اوبه او د سيستان هامون جهيل ډېر مشهور دي.

د ايران په لوېديځ کې د اروميه جهيل مشهور دى.

په ترکيه کې د وان جهيل نامتو دى.

د سون کارى جهيل د شمالي کوريا په شمال کې، لوب نور او يو شمېر زيات نور جهيلونه چې توريستي زياتې منظرې لري مشهور دي چې هر کال يو شمېر سيلانيان د هغو جهيلونو ليدو ته ورځي.



آیا د آسیا د لویې وچې د خلیجونو په اړه معلومات لرئ؟

د آسیا سواحل پرې کړي او تاوراتاو ځایونه زیات لري، له دې امله د سواحلو په شاوخوا کې یې زیات خلیجونه لیدل کېږي چې ځینو یې د بېړی چلولو لپاره ښه لاره هواره کړې ده.

د آسیا د شمالي سواحلو خلیجونه: ډېر مشهور یې د اوب خلیج دی، خو واړه نور کوچني خلیجونه هم لري.

د ختیځې آسیا د سواحلو خلیجونه: د کرونوتسکي خلیج او نور.

د آسیا د سویلي سواحلو خلیجونه: د سیام خلیج، د بنګال خلیج، د فارس خلیج، د عدن خلیج او نور.

د آسیا لوېدیځ ساحلي خلیجونه: کوچنی خلیج د عقبې د خلیج په نامه یادېږي.

لوی او واړه سمندرګي هم په آسیا کې لیدل کیږي. د کسپین سمندرګی د آسیا په دننه کې چې د آسیا د لویې وچې په دننه کې ډېر لوی سمندرګی دی.

د آسیا د ختیځ سمندرګي: د بیرنګ سمندرګی، د اخوتسک سمندرګی، د جاپان سمندرګی، ژېړ سمندرګی او د ختیځ چین سمندرګي دي.

د آسیا د سویل سمندرګی: د ختیځ چین سمندرګی، د جاوا سمندرګی، د اندامان سمندرګی، د عربو سمندرګي او د عمان سمندرګی چې زیات سوداګریز اهمیت لري.

د آسیا په لوېدیځ کې سور سمندرګی د ډېر اهمیت وړ دی.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو ووېشل شي، لومړۍ ډله دې د آسیا جهیلونه، دویمه ډله دې د آسیا خلیجونه او درېیمه ډله دې د آسیا سمندرګي په هغه نقشه کې چې د ټولګي مخې ته ځړېدلې ده وښيي.

پوښتنې

۱ ـ د آسیا د ختیځ د دریو سمندرګیو نومونه واخلئ.

۲ ـ د جاپان سمندرګی کوم هېوادونه سره بیلوي؟

الف ـ ترکیه او سوریه　　　ب ـ جاپان او کوریا

۳ ـ د کسپین سمندرګی د آسیا په کومه برخه کې پروت دی؟

الف ـ ختیځ　　ب ـ لوېدیځ　　ج ـ شمال　　د ـ سویل　　هـ ـ منځنۍ

٤ ـ ولې د آسیا د سواحلو په ځنګ کې ډېر خلیجونه شته دي؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

هر زده کوونکی دې د آسیا نقشه انځور کړي او په هغه کې دې د مهمو سمندرګیو او خلیجونو نومونه ولیکي.

د آسيا د لويې وچې اقليم



د آسيا د لويې وچې اقليمي نقشه

آيا پوهيږئ چې د آسيا اقليم د دې لويې وچې د خلکو په ژوند باندې څه اغيزه لري؟

آسيا ډېره پراخه او لويه وچه ده. د استوا له سيمې څخه ترشمالي قطبه او له ختيځ نه تر لوېديځ پورې بېلابېلې اقليمي سيمې لري. له دې امله چې د آسيا په لويه وچه کې نباتي پيداوار، ځنګلونه، خاوره، د کورونو او جامو ډولونه بېلابېل او راز راز دي، د آسيا راز راز اقليم په لاندې توګه دی:

۱ - د قطبي او يخچالي سيمو اقليم

د آسيا د لويې وچې د شمالي سواحلو په اوږدو کې د شمالي عرض البلد له ۶۶$\frac{۱}{۲}$ درجو څخه تر ۸۵ درجو پورې قطبي اقليمي برخې پراختيا پيدا کړې ده. دا اقليمي سيمه د تندرا سيمې په نامه يادېږي. ټيټ بوټي دلته زيات دي، خاوره يې حاصلخيزه نه ده. له کنګل او واورې نه ډک وي. تودوخه يې ډېره کمه ده چې کابو د سانتي ګريد ۶۰- درجو ته رسيږي.

۲ ـ د قطب لاندې اقليم

دغې اقليمي سيمه له ختيځ نه لوېديځ ته د سايبريا زياته برخه نيولې ده. ژمی يې ډېر سوړ او دوبی يې لږ سوړ يعنې د سانتي ګريد ۱۸ او ۱۹ درجې دی. د ناجوګانو هميشنې شنه ځنګلونه په دې سيمه کې زيات دي.

۳ ـ د ستپ د سيمې اقليم

دا ډول اقليم د منځنۍ آسيا د چين له شمال لوېديځ څخه پيل شوی لکه د يوه کمربند په څېر تر ترکيې پورې غځېدلې ده. د افغانستان او ايران په ګډون د منځنۍ آسيا هېوادونه پکې راځي. د اورښت اندازه يې ډېره کمه ده يعنې کابو د ۱۵۰ او ۲۰۰ ملي مترو په منځ کې ده. تودوخه يې په دوبي کې کابو ۴۰ درجې د سانتي ګريد ته او د ژمي سوړ والی يې منفي لس او پنځلس درجو د سانتي ګريد ته رسيږي . ددې په څېر صحراګانې په ايران ، افغانستان، هند او پاکستان کې هم ليدل کېږي.

۴ ـ د غرنيو او لوړو برخو اقليم

د هماليا، قراقرم، تيان شان، هندوکش، البرز او زاګروس د غرو لړيو د لوړو سيمو اقليم جوړ کړی دی. د اورښت اندازه يې تل د واورو په شکل وي. د غرونو دا لړۍ د آسيا د سيندونو سرچينه جوړوي.

۵ ـ صحرايي اقليم

د عربستان ټاپو وزمه چې د افريقا د لويې صحرا په اوږدو کې پرته ده د دوبي د تودوخې درجه يې له ۴۵ سانتي ګريد درجو نه زياتيږي او په ژمي کې شلو او پنځلس درجو ته راټيټيږي. په ډېرو کلونو کې اورښت پکې نه کېږي. اورښت يې کله کله ۵۰ ملي مترو ته رسيږي چې هغه سېلابي او تخريبي وي.

۶ ـ معتدل اقليم

کلنی اورښت يې له ۴۰۰ ملي مترو څخه زيات وي او د ژمي منځنۍ تودوخه يې له پنځلس درجو نه جګه او دوبی يې سانتي ګريد ۳۰ درجو ته رسيږي. د چين ټول هېواد د هماليا جنوب او د هند شمال په دې اقليم کې شامل دي.

۷ ـ مديترانه يي اقليم

د ترکيې يوه محدوده ساحلي برخه، د عراق شمال ختيځه برخه، د کسپين د سمندرګي سويل ختيځې ساحلي برخې يوه کوچنۍ سيمه او د مديترانې سمندرګي ختيځې غاړې په مديترانه يي اقليم کې شاملې دي. دوبی يې تود او وچ، ژمی يې باراني او معتدل دی. دستروس ونې (نارنج، مالټه، ليمو) او مديترانه يي بوټي په دې ځای کې ډېر شنه کېږي.

۸ ـ د استوايي سوانا اقليم

د دوبي اورښت يې له ۸۰۰ ملي مترو څخه زيات دی. د اوړي او ژمي تودوخه يې زيات بدلون نه لري، د

۲۰ او ۳۰ درجو په منځ کې بدلون لري د هند و چين ټاپو وزمه او د هند د نيمې قارې زياته برخه دا ډول استوايي سوانا اقليم لري. جګ، جګ بوټي، ميوه لرونکې او بې ميوې ونې پکې شنې کيږي.

۹ - د ا ستوا د باراني ځنګلونو اقليم

د شرق الهند ټاپوګان، د هندوچين لوېديځ سواحل د بنګله دېش سويل او د شمال لوېديځ هند يوه برخه په دې کې شامل دي. کلنى اورښت يې ډېر زيات دى او په هره مياشت کې له ۵۰۰ ملي مترو

څخه زيات اورښت لري. په دې ځاى کې د کال فصلونه نشته، کلنى منځنۍ تودوخه يې د سانتي ګريد ۲۵ او ۳۰ درجو په منځ کې ده. هوا يې تل توده او لمده وي. د ربړ ونې يې له مهمو پيدا وارو څخه دي.

د ټولګي فعاليت

زده کوونکي دې په درې ډلو وویشل شي، هره ډله دې د آسيا د اقليم درې سيمې تر بحث لاندې ونيسي او پايله دې خپلو ټولګيوالو ته بيان کړي.

پوښتنې

۱ ـ د تندرا سيمه د آسيا د کوم ډول اقليم په سيمه کې پرته ده؟

الف ـ تر قطبي لاندې ب ـ قطبي ساحه ج ـ صحرايي د ـ غرنی

۲ ـ د استوايي ځنګلونو اقليم کومې ځانګړتياوې لري؟

الف ـ ډېر اورښت د زياتې تودوخې سره ب ـ کم اورښت او تودوخه يې له صفر نه ټيټه

۳ ـ بنګله دېش کوم ډول اقليم لري؟

الف ـ قطبي اقليم ب ـ تحت قطبي اقليم ج ـ استوايي اقليم د ـ صحرايي اقليم

٤ ـ صحرايي اقليم دآسيا په کومه برخه کې موجود دی؟

له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د آسيا اقليمي نقشه رسم کړي او د ډول، ډول اقليمونو سيمه دې په رنګونو په نښه کړي.

بشري جغرافیه



د آسیا د نفوسو ګڼوالي ته په نقشه کې ځیر شئ. آیا ددې لویې وچې په ټولو ځایو کې خلک په یوه اندازه مېشت دي؟ په کومو ځایونو کې د خلکو ګڼوالی زیات او په کومو ځایونو کې خلک لږ لیدل کېږي؟

د ۲۰۱۷ میلادي کال د سر شمېرنې له مخې د آسیا په لویه وچه کې د نفوسو شمېر کابو ۴،۱ میلیارده کسه شمېرل شوی دی.

د وګړو نه ډکې او لږ نفوسه سیمې د ژوند د شرایطو پر اساس د آسیا په بېلو بېلو برخو کې سره توپیر کوي.

په هغو سیمو کې چې د ژوند ښه شرایط، لکه: ښه او برابر اقلیم، د کرنې او مالدارۍ پراخې ځمکې، د صنعتي فابریکو موجودیت، ښارونه او د سوداګرۍ بندرونه، ترانسپورتي ډېرې لارې، د مواصلاتو وسایط او وسیلې او زیاته کارمونده په کې وشي، د نفوسو شمېر هلته مخ په زیاتیدو دی.په غرنیو سیمو کې چې په اوږدې مودې کې سوړ اقلیم لري، کرنیزې لږې ځمکې، د صنعتي فابریکو نشتوالی، د ترانسپورتي وسایلو او لارو کمبود او خرابوالی ، د کارنه پیدایښت، وزګارتیا او

همدارنګه په ګرمو، مرطوبو، ځنګلي او با طلاقي سيمو کې د وګړو شمېر ډېر کم وي.
کوم هيوادونه چې په آسيا کې زيات نفوس لري د چين، هند، اندونيزيا، پاکستان، بنګله دېش، جاپان او سويل ختيځ آسيا هېوادونه دي.

ژبې

د آسيا خلک په بېلابېلو ژبو خبرې کوي. د آسيا دخلکو ژبې په دوو لويو برخو وېشل شوي چې د ژيړ پوستکو ژبې، لکه: د چين، کوريا او مغولستان د خلکو ژبې دي. او د سپين پوستکو ژبې، لکه: عربي، اردو، پښتو، دري، فارسي او ترکي ژبې دي.

دينونه

د آسيا لويه وچه، د لويو دينونو او لرغونو آيينونو لويه وچه ده. لوی دينونه يې عبارت دي له: د اسلام مقدس دين، مسيحيت او يهوديت څخه. د عربي هېوادونو، د منځنۍ آسيا هېوادونو، افغانستان، ايران، پاکستان، بنګله دېش، اندونيزيا او نورو هېوادونو کې هم مسلمانان په مختلفې سلنې استوګنه لري چې مقدس ځايونه يې په مکه معظمه، مدينه منوره او بيت المقدس کې دي.
د آسيا د لويې وچې لرغوني آيينونه: بودايي، برهمايي، شنتو، کنفسيوس او داسي نور دي چې د چين، هند، جاپان او کوريا خلک يې پيروان دي.



په بيت المقدس کې د اقصٰی د جومات انځور

د مکې معظمې انځور

نژاد

د آسیا خلک درې رنګه یعنې سپین، ژیړ او کم رنګه تور نژاد لري.

ـ سپین نژاد: په منځنۍ آسیا، لوېدیځه او سویل لوېدیځه آسیا او د سویلي آسیا په یوه برخه کې ژوند کوي.

ـ ژیړ نژاد: په ختیځ، سویل ختیځ او سایبریا کې ژوند کوي.

ـ تور نژاد: دهند په سویل کې، سریلانکا او د مالدیو په ټاپوګانو کې استوګنه لري.

د ټولګي فعالیت

د هرې ډلې غړي دې پرېوې لاندېنیو پوښتنو باندې بحث وکړي او نقشې ته په ځیرکېدو سره دې ځواب ووايي.

۱ ـ دآسیا د وګړو نه د ډکو هیوادونو نومونه واخلئ.

۲ ـ لږ نفوسه سیمې د آسیا په کوموځایونوکې پرتې دي؟ ولې لږ نفوسه دي؟

۳ ـ اسلامي مقدس ځایونه په کوم هېواد کې پراته دي او د څه په نامه یادېږي؟

٤ ـ د آسیا د خلکو د نامتو ژبو نومونه واخلئ؟

٥ ـ ژیړ پوستکي په کومو آسیایي هېوادوکې ژوند کوي؟

٦ ـ د جاپان، هند او بنګله دېش خلک د کوم آیین او دین پیروان دي؟

پوښتنې

په لاندې جدول کې په ځیر سره وګورئ، د الفبا د څنګ اعداد د مربوطو جملو په قطار کې ورسوئ.

۱	الف	د مسلمانانو مقدس ځایونه	دآسیا په ختیځ، سهیل ختیځ او سایبریا کې ژوند کوي
۲	ب	د آسیا د وګړو ډک هېوادونه	د هند په سهیل، سریلانکا او د مالدیو په ټاپوګانو کې ژوند کوي
۳	ج	ژیړ پوستکي	په غرنی سوړ اقلیم سیمه کې، تودې مرطوبې، ځنګلي اوبا طلاقی سیمې کې.
۴	د	د نفوسو ګڼوالی	په سعودي عربستان او فلسطین کې موقعیت لري.
۵	هـ	کم رنګه تور پوستکي	د انسانانو په منځ کې د افهام او تفهیم وسیله ده.
۶	و	کم نفوسه سیمې	چین، هند، اندونیزیا،پاکستان، بنګله دېش، جاپان او د هند او چین هېوادونه دي.
۷	ز	ژبه	هغو سیمو کې چې د ژوند ښه شرایط او د کار پیدابښت وي.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

کوم عوامل په یوه سیمه کې د وګړو د زیاتیدو لامل ګرځي؟ په دې اړه په خپلو کتابچو کې یو مطلب ولیکئ او په راتلونکي ساعت کې یې په ټولګي کې ولولئ.

اقتصادي جغرافیه

آیا کولای شئ چې د آسیا په لویه وچه کې د چای د تولیدونکو خو هیوادونو نومونه واخلئ؟

د آسیا د لویې وچې اقتصادي نقشې ته وګورئ. پخوا د آسیا د لویې وچې اقتصاد په کرنه او مالدارۍ ولاړ و چې په ابتدایي شکل کې و، خو د وګړو د زیاتوالي او د ښارونو د ودې سره غذایي توکو ته ورځ په ورځ اړتیا زیاته شوه.

د چای کرونده

له دې امله آسیایي هېوادونه زیار باسي خلکوته د غذايي توکو د برابرولو لپاره، د کرنې د نویو طریقو او ماشین آلاتو نه په ګټې اخیستنې سره کرنیز تولیدات زیات کړي. د آسیا په لویه وچه کې د اقلیمي ځانګړو شرایطو په اساس په هغو ځایونو کې چې حاصلخیزې ځمکې او زیاتې

اوبه لري، خلك په كرنې بوخت دي.

د آسيا د لويې وچې په بېلو بېلو برخو كې د اقليم او كرنې هماهنگي بايد په پام كې ونيسو. د آسيا په وچو سيمو كې غلې دانې، لكه: غنم، اوربشې او جوار كرل كېږي. په منځنۍ او سويل ختيځه آسيا كې د آرام سمندر او د هند د سمندر په غاړو كې د زياتې لمدې هوا او اورښت له امله وريجې كرل كېږي. په دې وروستيو كلونو كې كرنه او د حاصل ټولول په ټولو دغو سيمو او په ځانگړې ډول په هغو هېوادونو كې چې صنعت ته يې ډېره پاملرنه كړې ده ميكانيزه شوې ده او زياتوالى يې پيدا كړى دى. دچاى او كنف توليد په هند، پاكستان، سيلون او بنگله دېش كې زيات اهميت لري.

مالداري

دآسيا په لويه وچه كې خصوصاً په منځنۍ او لوېديځه برخه كې د څارويو ساتل او روزنه ډېر رواج لري. په دې سيمو او په غرنيو سيمو كې ډېر د غوايانو او پسونو روزنه كوي. آس په ځانگړې ډول تركمني ښكلي آسونه په منځنۍ آسيا كې روزل كېږي. د قره قل د پسونو روزنه په افغانستان او ايران كې رواج لري.

د فيل روزنه د سويل ختيځې آسيا په هېوادونو او د هند په يوه برخه كې رواج لري. له فيل څخه په كرنيزو كارونو او حمل و نقل كې گټه اخيستل كېږي.

د ټولگي فعاليت

زده كوونكي دې په ډلو ووېشل شي، هره ډله دې لاندېنيو موضوعاتو باندې بحث وكړي او د بحث پايله دې خپلو ټولگيوالو ته بيان كړي.

كرنه.........

مالداري.....

پوښتنې

لاندې سمې جملې په (ص) او ناسمې جملې په (غ) نښه كړئ:

۱ ـ دآسيا د لويې وچې اقتصاد په صنعت باندې ولاړ دى. (   )

۲ ـ آسيايي هېوادونه زيار باسي د غذايي توكو د پوره كولو لپاره د كرنيزو توليداتو اندازه زياته كړي. (   )

۳ ـ دآسيا د لويې وچې په وچو برخو كې ډېرې وريجې توليدېږي . (   )

٤ ـ د آسيا په لويه وچه كې د چاى توليد په هند، پاكستان، سيلون او بنگله دېش كې ډېر رواج لري. (   )

له ټولگي څخه بهر فعاليت

د فيل په اړه چې څه رنگه حيوان دى او په كوم ځاى كې د څه كار لپاره ساتل كېږي، يو مطلب وليكئ او په راتلونكي ساعت كې يې په ټولگي كې بيان كړئ.

کانونه او صنایع

د ګاز تصفیه

آیا پوهیږئ چې د آسیا صنعتي هیوادونه کوم دي؟

د کرنې سربېره د آسیا د لویې وچې د اقتصادي عایداتو بله برخه تر ځمکې لاندې له منابعو څخه ګټه اخیستل او د کاني توکو را ایستنه جوړوي چې له کرنې څخه ډېر وروسته ګټه ورڅخه واخیستل شوه.

په دې لویه وچه کې استعماري سیالۍ د کانونو په را ایستنه کې د ځنډ او خنډ لامل شو. د آسیا لویه وچه د کانونو او د ځمکې لاندې منابعو خصوصاً نفتو، ګازو او ډبرو سکرو په برخه کې ډېره غني ده. د سویل لوېدیځ هېوادونه چې د فارس خلیج په شاوخوا کې پراته دي، لکه: سعودي عربستان، عراق، ایران، کویټ، متحده عربي امارات د نړۍ د نفتو او ګازو ډېرې مهمې کاني زېرمې لري چې مختلفو هېوادونو ته یې صادروي. د ډبرو سکرو را ایستنه په ایران، ترکیې او هند (د کلکتې لوېدیځ کې شهرت لري.

د آسیا په ختیځ کې جاپان ډېر لوی صنعتي هېواد دی. که څه هم دا هېواد د کاني زېرمو له پلوه کمزوری دی، خو لږ تر لږه یې د اوسپنې، ډبرو سکرو، مالګې او سلفرو په را ایستنې سره یې خپلو صنایعو ته پراختیا ورکړې ده. جاپان د اوبو د برېښنا له ډېرو لویو تولیدوونکو هېوادو څخه دی. روسیه په آسیایي برخه کې پر نفتو سربېره ، د ډبرو سکرو، اوسپنې او نورو فلزاتو ډېرې زېرمې لري. د آسیا په سویل ختیځ کې اندونیزیا او میانمار د نفتو د تولیدولو ډېر لوی هېوادونه دي.

صنايع

صنايعو په آسيا کې ډېره وده نه ده کړې، خو درانه صنايع په روسيې، د چين د خلکو په جمهوريت، هند او جاپان کې منځته راغلي. د آسيا ډېر مهم صنعتي هېواد جاپان دی، خو د جنوبي کوريا، چين او تايوان نومونه هم د يادولو وړ دي.

د دې هېوادونو صنعتي توکي د نړۍ هرې خوا ته صادرېږي چې ځينې يې دا دي: هر راز ماشين آلات، الوتکې، موټرونه، تراکتورونه، کمباين، د لارو جوړولو ماشينونه، موټرسيکلونه، راډيو او د عکاسۍ سامانونه، کاغذي صنايع او کرنيز صنايع په جاپان کې د نفتو اېستلو لويې بېړۍ هم جوړېږي.

د آسيا ځيني هيوادونه اوس هم په کرنې تکيه لري. په دې هېوادونو کې عمده صنعت غالۍ اوبدل او لاسي صنايع دي، خو ورو ورو په صنعتي هېوادونو بدلیږي. هغه آسيايي هېوادونه چې له اوبو او سمندرونو سره نښتي، د هغو سوداګري (صادرات او واردات) د سمندر له لارې کېږي. کب نيول هم په آسيا کې ډېر دود دي.

په آسيا کې د ليدلو وړ توريستيکي ځايونه، لکه: زيارتونه، طبيعي او تفريحي منظرې زياتې دي. هر کال زرګونه خلک له تاريخي او طبيعي ځايونو څخه ليدنه کوي چې ددې وچې په اقتصاد کې ډېر اهميت لري.

د ټولګي فعاليت

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي، هره ډله دې له لاندېنيو موضوعاتو څخه پر يوې په خپل منځ کې سره بحث وکړي او پايله دې د ټولګي په مخ کې بيان کړي.

- کانونه
- صنايع
- توريزم

پوښتنې

١ ـ نفت په کومو آسيايي هېوادونو کې زيات دي؟

٢ ـ د آسيايي هېوادونو درانه صنايع ، کوم توليدات جوړوي؟

٣ ـ د آسيا د ډېرو مهمو صنعتي هېوادونو نومونه واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت

د منځني ختيځ په هېوادونوکې د نفتو د رول په اړه معلومات راټول کړئ او په راتلونکي درسي ساعت کې يې په ټولګي کې بيان کړئ.

دري دېرشم لوست

د آسیا مواصلاتي جغرافیه

د وړېښمو د لارې په اړه څه پوهېږئ؟

د وړېښمو لاره لرغوني لاره وه چې چین او هندوستان یې له مدیترانې سمندرګي او اروپا سره نښلول. دا لاره له ډېرو آسیایي هېوادونو په ځانګړي ډول له افغانستان څخه تېریده. په دې لاره وړېښم او درمل له آسیا څخه اروپا ته وړل کېدې. نن لارو له پخوا نه زیات پراختیا موندلې، لارې په درېو برخو وېشي:

١ ـ د وچې لارې چې له سړکونو او د اوسپنو له پټلیو څخه عبارت دي.

٢ ـ هوایي کرښې.

٣ ـ د اوبو یا سمندري لارې

١ ـ د وچې مواصلاتي لارې

دا لارې سړکونه او د اوسپنې پټلۍ دي. د اوسپنې پټلۍ مهمې، ارزانې او ډېرې د امن لارې دي چې ډېر آسیایي هېوادونه ترې ګټه اخلي. ډېره اوږده د اوسپنې لاره په روسیه کې ده چې د ولادی واستوک بندر چې د جاپان سمندرګي په غاړ پروت دی له مسکواو اروپا سره نښلوي . په اوس وخت کې د ترکیې، ایران، پاکستان او هند هېوادونه له یوبل سره د اوسپنو د پټلیو په وسیله نښلېدلي دي او سوداګریز مالونه او مسافرین بېلابېلو ځایونو ته رسوي. د آسیا په ځینو نویو ښارونو کې د اوسپنې د

ځمکې لاندې پټلۍ د (مترو) په ډول شته دي.

۲ ـ سمندري لارې

د آسيا خلکو له لرغونو زمانو څخه تر ننه پورې په هغو ځايو کې چې سمندرګيو او سيندونو يې ډېرې اوبه او لږ خوږ درلود او د بېړۍ چلولو وړ وې له هغو څخه د خلکو او سوداګريزو توکو په وړلو او راوړلو کې ګټه اخيستله. مهم کانالونه او آبناګانې، لکه: د باب المندب آبنا، مالاکا او هرمز د آسيا د لويې وچې په شاوخواکې پراته دي. د هرمز آبنا چې د عمان د سمندرګي او د فارس خليج په منځ کې پرته ده هره ورځ زيات شمېر بېړۍ ورڅخه تېرېږي او په زرګونو بوشکې نفت د نړۍ ګوټ ګوټ ته لېږدوي. د سويز کانال؛ سور سمندرګی د مديترانې له سمندرګي سره نښلوي چې له دې لارې ډېر سوداګريز مالونه د آسيا، اروپا او افريقا په منځ کې تبادله کېږي.

د مالاکا آبنا چې د ماليزيا او اندونيزيا د هېوادونو په منځ کې پرته ده هم د آسيا ختيځ او سويل ختيځ هيوادونه له نورې نړۍ سره نښلوي.

۳ ـ هوايي کرښې

هوايي کرښې لوی ښارونه سره نښلوي. د شلمې پېړۍ په وروستيو کې د الوتکو په جوړولو کې ډېر پرمختګونه شوي دي. الوتکه د لېږد (نقليې) ډېره ګړندۍ وسيله ده چې ډېرې آسانتياوې يې په لېږدولو را لېږدولو کې رامنځ ته کړي دي. د هر هېواد لوی ښارونه هوايي ډګرونه لري چې مسافرين او سوداګريز مالونه په لږ وخت کې له يوه ځای نه بل ځای ته لېږدوي.

د ټولګي فعاليت

زده کوونکي دې په دريو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د لاندې موضوعاتو په اړه بحث وکړي او پايله دې خپلو ټولګيوالوته بيان کړي.

۱ ـ هوايي کرښې　　　۲ ـ سمندري کرښې　　　۳ ـ د وچې لارې

پوښتنې

۱ ـ د وچې مواصلاتي لارې کومې لارې دي؟

۲ ـ ډېره ارزانه او د امن مواصلاتي لاره کومه ده؟

۳ ـ کومه آبنا د عمان د سمندرګي او د فارس د خليج په منځ کې پرته ده؟

٤ ـ د سويز کانال .... سمندرګی له .... سمندرګي سره نښلوي.

له ټولګي څخه بهر فعاليت

د مواصلاتي لارو د اقتصادي اهميت په اړه يو مطلب وليکئ او د جغرافيې په راتلونکي ساعت کې يې په ټولګي کې ولولئ.

د آسيا سياسي جغرافيه

د آسيا د سياسي جغرافيې په اړه څه پوهېږئ؟

سياسي جغرافيه د جغرافيې د علم يوه څانګه ده چې د هېوادونو د څلور خوا او سرحدونو په اړه، د کورنيو او نړيوالو اړيکو او اداري جوړښت په اړه بحث کوي.

آسيا د نړۍ ډېره لويه وچه ده چې پراخه ساحه يې نيولې ده. په دې لويه وچه کې ٤٦ خپلواک هېوادونه پراته دي چې بېلابېل رژيمونه لري. په ځينو دغو هېوادونو، لکه: افغانستان او ايران کې اسلامي جمهوري حکم چلوي. يو شمېر نور جمهوري رژيمونه لري. ځينې هېوادونه لکه جاپان شاهي رژيم لري. د قطر او متحده عربي امارات شيخ نيشني حکومت لري او فلسطين خود مختاره دولت لري. ځينې د نظر خاوندان د آسيا لويه وچه د سياسي جغرافيې له مخې په اوو برخو وېشي:

١ ـ منځنۍ ختيځ چې د آسيا په سهيل لوېديځ کې پروت دی او اسلامي عربي هېوادونه او ايران په کې پراته دي.

٢ ـ د آسيا جنوب چې د افغانستان اسلامي جمهوريت، پاکستان، هند، بنګله دېش په کې پراته دي.

٣ ـ د آسيا سويل ختيځ: چې مهم هېوادونه يې د اندونيزيا اسلامي هېواد او ماليزيا دي.

۴ ـ لرې ختیځ چې مهم هېوادونه یې چین، جاپان او کوریا دي.
۵ ـ منځنۍ آسیا چې د تاجکستان نه تر ترکمنستان او قزاقستان پورې په کې شامل دي.
۶ ـ شمالي آسیا چې یوازې د روسیې آسیایي برخه په کې پرته ده.
۷ ـ لوېدیځه آسیا چې په کوچنۍ آسیا هم یادېږي او لوی هېواد یې ترکیه ده.

هغه هېوادونه چې د سمندرونو په خواکې پراته دي د ټولو هېوادونو خواته آزاده لاره لري. د افغانستان، مغولستان، لاووس، نیپال، بوتان او د منځنۍ آسیا هېوادونه آزاد سمندر ته لار نه لري. چې له دې امله د نورو هېوادونو سره په ارتباطي ستونزو اخته دي. د آسیا لویه وچه ډېر او با ارزښته کاني مواد، مهم کرنیز محصولات او ډېر وګړي او ښه د خرڅلاو بازارونه لري. په همدې دلیل د اروپا یي هېوادونو د پاملرنې وړ ده. د اروپا استعماري هېوادونه په اوله کې د سوداګریزو کمپنیو په نامه آسیا ته راغلل، وروسته یې ساحلي برخې تر خپلې واکمنۍ لاندې راوستلې. په اتلسمه او نولسمه پیړۍ کې اروپایان (پرتګالیان، هالنډیان، هسپانویان، انګریزان او فرانسویان) آسیا ته راغلل . پرتګالیانو د آسیا سویل ختیځ برخې تر خپل استعمار لاندې ونیولې. هالینډ اندونزیا، انګریزانو د میانمار نه تر افغانستان پورې اشغال کړل. افغانستان د انګریزانو په ضد درې جګړې وکړې او لومړنی هېواد و چې د نړۍ لوی استعماري قدرت ته یې ماتې ورکړه او خپله خپلواکي یې لاسته راوړه.

د شلمې پیړۍ په منځ کې په آسیا کې یوازې شلو هېوادونو خپلواکي درلوده. د خپلواکۍ غوښتنې غورځنګونه په ملتونو کې ورځ په ورځ ژوندي کېدل، ترڅو چې اکثرو هېوادونو خپله خپلواکي تر لاسه کړه.

د ټولګي فعالیت

زده کوونکي دې په اوو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د سیاسي نقشې پرمخ کې د آسیا د اوو برخو یوه، د نقشې پرمخ وښيي.

پوښتنې

۱ ـ سیاسي جغرافیه د کومو موضوعاتو په اړه بحث کوي؟
۲ ـ کوم هېوادونه اسلامي جمهوریت لري؟ نوم یې واخلئ.
۳ ـ کوم هېوادونه آزاد سمندرته لار نه لري؟ نوم یې واخلئ.
۴ ـ ولې د آسیا لویه وچه په اتلسمه او نولسمه میلادي پیړۍ کې د استعمار ګرو تر پاملرنې لاندې راغلې وه؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

هغه هېوادونه چې د آسیا په لویې وچې کې آزاد سمندرته لاره نه لري د هغو هېوادونو سره چې آزاد سمندرته لار لري د اقتصاد له پلوه انډول کړئ او پایله یې په راتلونکي ساعت کې خپلو ټولګیوالوته ولولئ

د آسیا د لویې وچې د هیوادونو لیست

شمیره	د هیواد نوم	پلازمېنه	مساحت په کیلومتر مربع	نفوس	د حکومت ډول
۱	افغانستان	کابل	۶۵۲۰۰۰	۳۰۰۰۰۰۰۰	اسلامي جمهوري
۲	د عربو متحده امارات	ابوظبی	۸۳۶۰۰	۴۲۱۴۰۰۰	د اوو امیرنشینو فدراسیون
۳	اندونیزیا	جاگارتا	۱۹۰۴۲۳۳	۲۲۲۷۳۱۰۰۰	اسلامي جمهوري
۴	اردن	عمان	۸۹۳۲۶	۵۵۰۵۰۰۰	مشروطه شاهي
۵	ازبکستان	تاشکند	۴۴۷۴۰۰	۲۶۳۸۳۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۶	ایران	تهران	۱۶۴۸۱۹۵	۷۰۴۷۲۸۴۶	اسلامي جمهوري
۷	بحرین	منامه	۶۹۴	۷۲۷۰۰۰	شاهي
۸	بروڼئي	د سری بگاوان بندر	۵۷۶۵	۴۷۵۰۰۰	شاهي
۹	بنگله دېش	ډاکه	۱۴۷۵۷۰	۱۳۸۸۳۵۰۰۰	جمهوري
۱۰	بوتان	تیمپو	۴۷۰۰۰	۷۹۰۰۰۰	مشروطه شاهي
۱۱	پاکستان	اسلام آباد	۷۹۶۰۹۵	۱۵۶۷۷۰۰۰۰	اسلامي‌فدرال‌جمهوري
۱۲	تاجکستان	دوشنبه	۱۴۳۱۰۰	۷۰۶۳۰۰۰	جمهوري
۱۳	تایلند	بنکاک	۵۱۳۱۱۵	۶۴۶۳۲۰۰۰	مشروطه شاهي
۱۴	تایوان	تایپی	۳۶۰۰۰	۲۲۸۱۵۰۰۰	جمهوري
۱۵	ترکمنستان	عشق آباد	۴۸۸۱۰۰	۴۸۹۹۰۰۰	جمهوري
۱۶	ختیځ تیمور	دیلی	۱۴۸۷۴	۱۰۳۲۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۱۷	ترکیه	انقره	۷۷۹۴۵۲	۷۲۹۳۲۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۱۸	چین	پیکنگ	۹۵۷۲۹۰۰	۱۳۱۱۳۸۱۰۰۰	یو حزبي سوسیالستي جمهوري
۱۹	روسیه	مسکو	۱۷۰۷۵۴۰۰	۱۴۲۳۹۴۰۰۰	فدرالي جمهوري
۲۰	جاپان	توکیو	۳۷۷۸۱۹	۱۲۷۷۱۶۰۰۰	مشروطه شاهي
۲۱	سریلانکا	کولمبو	۶۵۶۱۰	۱۹۸۷۹۰۰۰	جمهوري

شمیره	د هېواد نوم	پلازمېنه	مساحت په کیلومتر مربع	نفوس	د حکومت ډول
۲۲	سنگاپور	سنگاپور	۶۴۱	۴۴۰۸۰۰۰	جمهوري
۲۳	سوریه	دمشق	۱۸۵۱۸۰	۱۸۵۴۲۰۰۰	جمهوري
۲۴	عراق	بغداد	۴۳۸۳۱۷	۲۸۵۱۳۰۰۰	جمهوري
۲۵	سعودي عربستان	ریاض	۲۲۴۰۰۰۰	۲۳۶۸۷۰۰۰	مشروطه شاهي
۲۶	عمان	مسقط	۳۰۹۵۰۰	۲۵۱۶۰۰۰	مطلقه شاهي
۲۷	فلسطین	قدس	۶۲۶۳	۴۱۴۱۰۰۰	خود مختاره دولت
۲۸	فلیپین	مانیلا	۳۰۰۰۰۰	۸۵۵۶۳۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۲۹	قبرس	نیکوزیا	۹۲۵۰	۱۰۰۴۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۳۰	قرغزستان	بیشکک	۱۹۸۵۰۰	۵۱۹۲۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۳۱	قزاقستان	استانه	۲۷۱۷۰۰	۱۵۲۴۲۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۳۲	قطر	دوحه	۱۱۴۷۱	۸۳۸۰۰۰	امارتي شیخ نشین
۳۳	کمبودیا	پنوم پن	۱۸۱۰۳۵	۱۳۶۴۸۰۰۰	مشروطه شاهي
۳۴	سویلي کوریا	سیول	۹۹۶۴۶	۲۸۱۳۸۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۳۵	شمالي کوریا	پیونگ یانگ	۱۲۲۷۶۲	۲۲۵۸۳۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۳۶	کویت	کویت	۱۷۸۱۸	۳۰۸۴۰۰۰	مشروطه شاهي
۳۷	لاووس	وین تیان	۲۳۶۸۰۰	۵۷۵۱۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۳۸	لبنان	بیروت	۱۰۴۰۰	۳۸۳۴۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۳۹	مالدیو	ماله	۲۸۹	۳۰۰۰۰۰	جمهوري
۴۰	مالیزیا	کوالا لامپور	۳۲۹۷۵۸	۲۶۶۴۰۰۰۰	مشروط فدرال شاهي
۴۱	مغولستان	اولان باتور	۱۵۶۶۵۰۰	۲۵۸۰۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۴۲	میانمار	رنگون	۶۷۶۵۷۷	۴۷۳۸۳۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۴۳	نیپال	کتمندو	۱۴۷۱۸۱	۲۷۶۷۸۰۰۰	مشروطه شاهي
۴۴	ویتنام	هانوی	۳۳۱۰۴۱	۸۳۴۵۸۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۴۵	هند	نوی ډهلي	۳۱۶۵۵۹۶	۱۱۱۹۵۳۸۰۰۰	څو حزبي جمهوري
۴۶	یمن	صنعا	۵۵۵۰۰۰	۲۰۶۷۶۰۰۰	څو حزبي جمهوري

د څپرکي لنډيز

- آسيا د نړۍ ډېره لويه وچه ده چې ډېره برخه يې په ختيځه نيمه کره او شمالي نيمه کره کې پرته ده.
- د آسيا لويه وچه لرغوني تمدنونه او دينونه لري.
- آسيا لوړ غرونه (هماليا، هندوکش او البرز) او پراخې دښتې (د مغولستان دښته په مغلوستان کې، لوت په ايران کې، او ربع الخالی په عربستان کې) لري.
- په آسيا کې زيات سيندونه بهيږي چې عبارت دي له اوب، آمور، سند، هلمند، کارون، فرات او داسې نورو څخه.
- د جغرافيايي موقعيت پر بنسټ، زيات جهيلونه د آسيا په قاره کې شته دي چې عبارت دي له: بايکال، بالخاش، شيوا، ارومیه، وان او ارال څخه.
- د آسيا مهم خليجونه د فارس خليج، بنګال، عقبه او مهم سمندرګی یې د کسپين سمندرګی دی چې د آسيا د لويې وچې لوی داخلي سمندرګي جوړوي.
- دې موضوع ته په پاملرنې چې د آسيا لويه وچه د استوا له کرښې نه تر شمالي قطب پورې پرته ده، بېلا بېل اقليمونه لري، لکه: د قطبي ساحې اقليم، يخچالي، د قطبي لاندې اقليم، د منځنی آسيا د ستپ سيمه، غرنی او لوړې څوکې، صحرايي، معتدله، مديترانه يي، استوايي سوانا او استوايي او باراني ځنګلونه.
- د آسيا په لويه وچه کې د وګړو مېشت کېدل يو ډول نه ده په کرنيزو پراخو ځمکو، د صنعتي فابريکو په څنګ، ښارونو او سوداګريزو بندرونو او ... کې د وګړو تراکم زيات او په غرنيو او تودو لندو ځنګلي سيمو کې وګړي لږ دي.
- د آسيا خلک سپين، ژيړ او کمرنګه تور نژاد لري.
- دآسيا اقتصاد پخوا ډېر په کرنه او مالداری باندې ولاړ و او په ابتدايي توګه و.
- د آسيا سويل لوېديځ هېوادونه د نړۍ د نفتو او ګازو ډېرې لويې زيرمې لري.
- د آسيا ډېر مهم صنعتي هېوادونه دادي: جاپان، سويلي کوريا، چين او تايوان.
- د آسيا مواصلاتي لارې په دريو برخو، د وچې لارې، هوايي کرښې او د سمندري اوبيزو لارو باندې ويشل شوې دي.
- د باب المندب، هرمز او ملاکا آبناګانې له اقتصادي او نظامي پلوه ډېر اهميت لري او د آسيا په وچه کې پرتې دي.
- د سويز کانال سور سمندرګی او د مديترانې سمندرګی سره نښلوي.
- د افغانستان او ايران هېوادونه اسلامي جمهوري حکومت لري.
- د قطر او متحده اماراتو هېوادونه د شيخ نشيني حکومت لري.
- د آسيا لويه وچه د سياسي جغرافيې له مخې په اوو سيمو وېشل کېږي چې عبارت دي له: منځنی ختيځ، سويلي آسيا، سوېل ختيځ، لرې ختيځ، منځنی آسيا، شمالي آسيا او لوېديځه آسيا.
- د آسيا لويه وچه زيات او ارزښتناکه کاني منابعو او د خرڅلاو د ډېرمنو بازارونو، د لرلو له امله تل د استعماري هېوادونو د پاملرنې وړ ګرځېدلي دي.

جغرافیایي اصطلاحات

اعتدالین: د کال هغه وختونه چې د لمر وړانګې د استوا پر کرښې باندې عمودي لګیږي او دواړه قطبونه په یوه اندازه له لمر څخه ګټه اخلي او د استوا د کرښې په اوږدو په شمالي او سوېلي نیمو کرو کې په هره سیمه کې د ورځې اوږدوالی ۱۲ ساعته دی. د اعتدالین وخت د پسرلي لومړۍ نېټه (د حمل لومړۍ) او د مني لومړۍ (د میزان لومړۍ) ده.

اقلیم: د ځمکې د هوا منځنۍ اندازه ده چې په یوې ټاکلې سیمې کې په یوې اوږدې مودې کې ټاکل کیږي.

استوایي قطر: د ځمکې د کُرې ډېر لوی قطر ته وایي چې ځمکه په مساوي دوو شمالي او سوېلي نیمو کرو وېشي.

تندرا: روسي کلمه ده چې د روسیې په شمال کې هغوسیمو ته ویل کیږي چې ونې نه لري چې ژمی یې سوړ او اوږد او د کال په ډېرو ورځو کې کنګل وي. د هغه ځای دوبی ډېر لنډ او د تودوخې درجه له مثبت لسو درجو نه کمه وي اویه همدې لنډې مودې کې د ځمکې د مخ کنګلونه ویلې کیږي او بوټې لکه: خزې او ګلسنګ وده کوي.

تمدن: په ښار کې ژوند کول، ښاري رسم او رواج سره بلدتیا او د ځان لپاره د پرمختګ د ښه ژوند د اسبابونو تیارولو ته تمدن وایي.

توریست: د تاریخ له مخې فرانسوي اشراف زاده ګانو ته چې د تحصیل او په ژوند کې د تجربو د لاسته راوړلو لپاره به سفر ته تلل توریست (سیلاني) یې ورته وایه. دا اصطلاح له نولسمې پیړۍ نه معمول شوه، وروسته یې دا اصطلاح په فرانسې کې هغو خلکو ته کاروله چې د وزګارتیا د وخت تیرولو لپاره به یې فرانسې ته سفر کاوه. داسې سفرونو ته نړۍ ګرځېدل یا توریزم وویل شو.

جهیل: ډېرې پراخې ولاړې اوبه دي چې په طبیعي حالت باندې د وچې په واسطه چاپېرشوې وي.

جنوبي نیمه کره: له استوا کرښې نه تر جنوبي قطبه پورې جنوبي نیمه کره ده.

حضیض: کله چې ځمکه خپل انتقالي حرکت کې چې د لمر په چاپېره ګرځي هغه وخت چې د ځمکې او لمر واټن ډېر نږدې شي د حضیض په نامه یادیږي.

خلیج: په وچه کې د پراخو او ژورو اوبو مخکې تګ دی چې دریو خواووته یې وچه او یوې خواته یې اوبه چاپیره شوې وي.

څرځای: هغه ځمکه ده چې ډېر بوټي پکې شنه کېږي چې څاروي کولای شي یوه موده پکې وخري.

څوکه: د غره ډېرې لوړې برخې ته وايي.

د ارکتیک دایره: د شمالي عرض البلد $66\frac{1}{2}$ درجه، په دې اصطلاح یادوي.

د انتارکتیک دایره: د جنوبي عرض البلد $66\frac{1}{2}$ درجو ته انتارکتیک ویل کېږي.

د استوا دایره: د عرض البلد لویه دایره ده چې د ځمکې کره په دوو شمالي او سویلي نیمو کرو وېشي.

د جدي دایره: د جنوبي کرې $23\frac{1}{2}$ درجې چې د لمر وړانګې د جدي په لومړۍ نېټه وربانديې عمودې لګیږي.

د سرطان دایره: د شمالي عرض البلد $23\frac{1}{2}$ درجې چې د لمر وړانګې د سرطان پر لومړۍ ورځ وربانديې عمودې لګیږي.

د عرض البلد دایره: هغه دایرې چې د استوا د کرښې سره موازي دي او د ختیځ لوېدیځ لورې لري او د طول البلد پر دایرو عمودوي.

د قطب ستورى: غټ او ځلېدونکی ستوری دی او د ځمکې شمالي قطب د هغه په لور پروت دی.

د اوړي شمسي انقلاب: دا انقلاب هغه وخت رامنځ ته کېږي چې د لمر وړانګې د سرطان پر کرښې (شمالي $23\frac{1}{2}$ درجو) باندې د سرطان د میاشتې په لومړۍ نېټې باندې رامنځ ته کېږي. چې په شمالي نیمه کره کې دوبی پیلیږي.

د ژمي شمسي انقلاب: د ا انقلاب د جدي پر کرښې (جنوبي $٢٣\frac{١}{٢}$ درجو) باندې د لمر د وړانګو عمودېدل د جدي د میاشتې په لومړۍ ورځې باندې کېږي. چې په شمالي نیمه کره کې ژمی پیلیږي.

د کرنې ابتدایي طریقه: هغه کرکیله ده چې د لاس او حیوانې یوې باندې سرته رسیږي.

د کرنې ماشیني طریقه: هغه کرکیله ده چې د کرنیزو ماشین آلاتو په واسطه کېږي.

د جنوبي قطب نقطه: د ځمکې د کُرې وروستۍ جنوبي نقطه ده چې د ځمکې د محور په جنوبي وروستۍ برخه کې پرته ده.

د ځمکې محور: فرضي کرښهٔ ده چې د ځمکې کره د هغه په چاپېره ګرځي.

د ځمکې د محور میلان: د$٢٣\frac{١}{٢}$ درجو زاویه ده چې د ځمکې د کرې د محور د فرضي کرښې او مستوی مدار باندې د عمودی کرښې ترمنځ تشکیلږي.

ستپ: د وښو سیمه چې د کرنې او ځارویو څرځای ته برابره وي. هغه سیمې چې نیمه وچ اقلیم لري چې واښه او نې په خپاره ډول پکې لیدل کېږي.

سمندرګی: د پراخو اوبو یوې برخې ته وایي چې تر سمندر وړه وي. ځینې وخت د سمندر سره نښتې وي او کله د وچې په واسطه چاپېره شوې وي.

سوانا: اقلیمي سیمه ده چې بوټي، نیزارونه او تیټې ونې لري.

شالیزار: هغه ځمکې چې شولې پکې کرل کېږي.

شمالي قطب: د ځمکې د کرې شمالي وروستۍ برخې ته وایي.

شمالي نیمه کره: له استوا کرښې نه تر شمالي قطبه پورې شمالي نیمه کره ورته وایي.

صنعت: هغه کار او فعالیت دی چې د هغې په واسطه خام توکي په پخو توکو بدلیږي. د مثال په توګه: له اوسپنو څخه موټر او له پنبې څخه ټوکر او کالي جوړیږي.

صحرايي اقليم: هغه اقليم دى چې ځانګړتياوې يې د اورښت لږوالى، د شپې او ورځې د تودوخې د درجې زيات توپير، سخت بادونه او د بوټو او نباتاتو لږ والى دى.

طبيعي جغرافيه: د جغرافيې يوه څانګه ده چې د غرونو، سيندونو، د هوا د تودوخې، نباتاتو او سمندرونو په اړه بحث کوي.

طبيعي ځنګل: د ځمکې يوه سيمه ده چې په خپله پرې ونې او بوټي شنه ه شوي وي.

طول البلد: هغه نيم دايروي کرښې چې د شمالي قطب او سويلي قطب په منځ کې غځېدلې وي او پر عرض البلد باندې عمودې وي.

قطبي قطر: چې په اصل کې د ځمکې محور دى او په استوايي قطر عمود وي. يوه څنډه يې شمالي قطب او بله څنډه يې جنوبي قطب جوړوي.

قيمتي ډبرې: لاجوردو، ياقوتو، فيروزه او نورو ته قيمتي او با ارزښته ډبرې وايي.

ګرينويچ: لندن ته نژدې يو پارک دى چې د ګرينويچ رصدخانه پکې جوړه شوې ده. او د صفر درجې طول البلد د هغه له منځ څخه تيرېږي.

ماشيني صنايع: هغه کار او فعاليت دى چې د توکو جوړول د ماشين په واسطه کېږي.

مجسمه کُره: د ځمکې د کرې کوچنى مدل په يو ټاکلى مقياس باندې دى.

واردات: سوداګريز مالونه چې له بهر څخه هېواد ته راوړل کېږي، لکه: موټر، کالي، د برېښنا وسيلې، خوراکي توکي او داسې نور.

هکتار: د مساحت د اندازه کولو واحد دى او د هرو لسو زرو مترو مربعو معادل يا پنځه جريبه ځمکه ده

هوا (جو): د ځمکې د مخ چارچاپېره هوا ته جو وايي.